شاعري كه ,,الهامي كيفيت ،، نۀ وے
د دنيـــا خلـــق بـــه واړه شـــاعران وو

# لېونتوب

( ثلورم چاپ )

لائق زاده لائق

د چاپ ټول حقوق د مصنف په نوم محفوظ دي


- د کتاب نوم ــــــ لیونتوب
- لیکوال ــــــ لایق زاده لایق
- کمپوزنګ ــــــ ارشاد خان پښتوسنټر پېښور
- د چاپ کال ــــــ مارچ ۲۰۰۵ء
- دویم چاپ ــــــ جولائي ۲۰۰۶ء
- دریم چاپ ــــــ مارچ ۲۰۰۷ء
- څلورم چاپ ــــــ جنوري ۲۰۱۱ ء
- شمېر ــــــ یو زر (۱۰۰۰)
- اهتمام ــــــ د پښتونخوا د پوهنې دیره
- بیعه ــــــ ۱۵۰ کالدارې
- چاپ ځائے ــــــ ضیاء سنز پرنټرز پېښور


د ملاوېدو درک

- ⌫ یونیورسټي بک ایجنسي خیبربازار پېښور ښار
- ⌫ د پښتو ژبې او ادبیاتو بُک شاپ پېښور یونیورسټي او ددې ترڅنګه د کتابونو هر لوئے دوکان

# ټرون

## د خپلې ,, ځلا ،، او ,, واصف ،،

په نوم

کومې چې زما د وینې تسلسل د ے.

,, وینه ،، مې نوره هم ,, توده ،، کړې ربه
چې لېونتوب مې ,, لېونتوب ،، پاتې شي

لایق زاده لایق

# زما لېونتوب ــــ ستاسو مینه

ګرانو مینه والو !

د ژوند په دغه ستړې لار چې زۀ کله هم شاته ګورم نو ستاسو مینه ، ستاسو اخلاص راته سیوري سیوري کیږي . دغه هر څۀ ماله یو ډاډ او یوه حوصله راکړي . همدغه حوصله ده چې ماته ئې د لیکلو توان رابخښلے دے . زۀ لکه د پرون نن هم دا اعتراف کوم چې زۀ لا تر اوسه د شعر په رموز نۀ پوهیږم . بس خپلو ناقراره جذبو ته د اظهار چلونه ښایم . تاسو زما دغه ,,لېونتوب ،، ته شاعري وایئ . دا هر څۀ ستاسو مینه ده چې لېونتوب ئې په ,, **څلورم ځل** ،، چاپ ته اورسولو . دې هر څۀ دا خبره بیخي غلطه ثابته کړه چې پښتانۀ د ,, کتاب ،، قدر نۀ کوي . ځکه چې د ,, لېونتوب ،، ورمبے چاپ صرف په څو

میاشتو کښې هر مینه وال ته ورسیدو . دغه رنګ ,,دویم چاپ،، هم تاسو بې قدرۍ ته پاتې نۀ کړو . او ,,دریم چاپ،، هم په لږه موده کښې نوؤ نوؤ مینه والو اوقدرولو . او دا هم ستاسو دغه توده توده مینه ده چې د ,,لېونتوب،، نورو خوریدو ته لارې پرانیزي . د ,,لېونتوب،، نه پس ما نعتیه مجموعه ,,جلوې،، هم ستاسو مینې ته سپارلې ده او د غزلو او نظمونو نورې مجموعې به ډېر زر ستاسو په لاسونو کښې وي . تاسو مینه کوئ او زما ,,لېونتوب،، به د اظهار نوي نوي چلونه زده کوي .

چې یارانو خپله مینه راسره کړه
شاعري مې د رنګونو شاعري شوه

ستاسو د نورې مینې په باور

ستاسو
لایق زاده لایق

# مننه

زۀ لکه د پرون نن هم د ښۀ شعر ليکلو په هنر او رموزو نۀ پوهيږم ـ چې څۀ مې خيال ته راشي په لفظونو کښې ئې د قيد کولو هڅه کوم ـ دا خو زما مئينان دي چې زما ددغه ناقراره جذبو اظهار ته په درنه سترګه ګوري ـ دغه درنښت ، دغه ډاډ ماته د نورو ليکلو توان رابخښي ـ زۀ د خپلو دغه ټولو مئينانو مننه کوم ـ د دوي تر څنګه د پښتني خاورې د هاغه ټولو موسيقارانو هم يو جهان مننه ، چا چې د موسيقۍ په اهنګونو کښې زما جذبې نورې ښائسته کړې دي او دغه رنګ زما د زړۀ خبرې د ملک دننه او بهر هېوادونو کښې ټولو پښتنو واوريدې ـ په دغه ښاغليو کښې د استاد رفيق شينواري ، استاد راحت حسين ، استاد بختيار احمد ، استاد فرح سير شمع ، استاد فضل ربي ، ښاغلے جلال سرحدي ، ښاغلے ګل خان بنوڅے ،

ښاغلی ماسټر علي حیدر ، ښاغلی استاد نذیر ګل ، ښاغلی فرخ زیب نوشهروي ، ښاغلی شاکر زیب نوشهروي ، استاد ماس خان وصال او ښاغلی نذر محمد خان زروکي او نورو ډېرو نومونه په خصوصي توګه د ذکر وړ دي ـ ددې هنرمندانو په موسیقۍ کښې بې شمېره سندر غاړو زما لفظونو له ژبه ورکړه ـ چې ورکښې د استاد خیال محمد ، استاد هدایت الله ، محترمې کشور سلطان، محترمې ماه جبین قزلباش ، ښاغلی ګلریز تبسم ، ښاغلی ګلزار عالم ، ښاغلی ماسټر علي حیدر، ښاغلی اورنګزیب خیال، ښاغلی سردار علي ټکر، ښاغلی الماس خلیل، ښاغلی دستار علي ، ښاغلی بهار علي، محترمې شبنم ، محترمې شکیله ناز محترمې وږمې ، ښاغلی رضوان منور، ښاغلی شاه ځوان منور ښاغلی خالد خان ( دیر) ، ښاغلی جلیل شبنم، ښاغلی تاج محمد تنها ، ښاغلی سیدا ګل مینا ، ښاغلی بریالي صمدي ، محترمې رابعې ، ښاغلی انور خیال، ښاغلی شهنشاه ، ښاغلی سرفراز ، ښاغلی زرشاد علي ، محترمې عقل مینې ، ښاغلی اکبر حسین ښاغلی خالد ملک ، محترمې ثمینه ناز ، محترمې نازیه اقبال نه واخله د اوسني دور پورې ټول فن کاران زما د فکرونو سفیران دي ـ ځکه چې هم دا ښاغلي دي چې زه ئې ,, لایق ،، کړے یم ـ ګني د کتابونو

په پاڼو کښې د پښتو ژبې ډیر لوئے لوئے لیکوال لاتر ننه پټ پراته دي.

زۀ د خپلې پښتنې خاورې د خپلو دغه ټولو هنرمندانو احسان بیا بیا منم.

چې زما واړه فکرونه ئې نغمه کړل
د هنر دغه ,, شملو ، ته مې سلام دے

په درنښت
لایق زاده لایق

# پاڼې پاڼې

زهٔ چې کله هم د ژوند د ملګرو نه یوازې یوازې ناست یم د ځان نه دا پوښتنه کوم .چې زهٔ څوک یم ؟ د خپل ځان په دغه لټون کښې د مودو مودو راسې ورک ورک او لیونے لیونے ګرځم. خو لاتر اوسه د ,,ځان ،، سره اشنا نهٔ شوم .صرف دومره خبر یم چې د سوات د ګلوریني سیمې په غیږه کښې مې په ۱۵ جنورۍ کال ۱۹۵۹ء کښې سترګې پرانستې دي .زمونږ د کلي نامه ,,مدین ،، ده .چې د بیدیاګ او سپین ښاخ د غرونو په لمنه کښې پروت دے .زهٔ په قام اخون خیل یم د لعل جان باچا زوئے د حاجي کاکا لمسے او د مشر خیلو د کورنۍ غړے یم . اخون خیل د خپل دور د لوئے لیکوال او پیر طریقت حضرت اخون درویزه بابا لمسي دي .چا چې ډېر کاله پخوا د افغانستان د ننګرهار ولایت نه هجرت کړے دے او بیا ئې د یوسفزو سره

یو ځائے په بونیر او سوات کښې ژوند کړے دے۔د یوسفزو او اخون خېلو نژدې والے دومره زیات پاتې شوے دے چې د سوات او بونیر دا موجوده نسل په څۀ نه څۀ حواله ,, یو نسل ،، ګڼلے شي۔ځکه چې د یوسفزو او اخون خېلو تر مېنځه د وینې ډېرې رشتې شریکې دي۔

د نسلونو دغه اختلاط دومره ډېر زیات دے چې په نړیواله سطح یو نسل هم پاک او سوچه نشي کېدے او د وخت د تیریدو سره دا اختلاط دومره په تندۍ سره روان دے چې که د ټیکنالوجۍ په حواله ځوک د ,, ګلوبل ویلج ،، خبره کوئ نو د نسلونو اختلاط به د ,, ګلوبل هوم ،، خوب رښتیا کړي۔بهر حال ما د خپل ځان خبره کوله۔عجیبه اتفاق دا دے چې ما ته د خپل ماشومتوب قیصې ډېرې کمې یادې دي ۔دا غالباً ځکه چې زۀ د خپلې مور د ټولو نه کشر ، نیازبین او بې پروا زوئې ووم۔هغه په ما ډیره مئینه وه۔د هغې تت تت عکسونه کله کله زما د ذهن پردې ته راځي۔زۀ ایله د څلورو کالو ووم چې مور مې ناروغه شوه ۔د هغې ناروغتیا ورځ تر ورځې سېوا کېده او بیا .... بیا زۀ یوازې پاتې شوم... بیخي یوازې... خو زما پلار زۀ یوازې نۀ کړم ۔هغه ماله دومره ډېره مینه راکړه چې زۀ ئې د حالاتو لمبو ته پرې نۀ ښودم۔که هر څو زۀ د ورکوټوالي راسې

لېونے لېونے ووم په وړه وړه خبره به مې ضدونه کول ـ مشران وائي چې ما به د خپلې مرضۍ خلاف يوه خبره نۀ اوريده ـ خو زما عظيم پلار دا هر څۀ په روڼ تندي زغمل ـ زۀ به د سکول نه پټېدم او چې پلار ته به مې پته اولګيده نو ... راپسې به راغے په اوږه به ئې واخستم ـ

او بيا دغه مينې، دغه ډاډ زما دسبق سره مينه سېوا کړه ـ زۀ دا په جار وايم چې زۀ هاغه بختور انسان يم چې د محروميانو په ماحول کښې مې په پوره ډاډ د خپل سکول په ملګرو کښې خپل ځائے پيدا کړو ـ او په کال ۱۹۷۵ء کښې چې زمونږ د لسم امتحان اوشو ـ نوما اول پوزيشن واخستو ـ د سبق سره سره لا شعوري طور دشاعرۍ اثر زما د ژوند ملګرے وو ـ دا غالباً ځکه چې زمونږ په کورنۍ کښې د وړاندې نه څنې في البديه شاعران تير شوي وو او يا بيا دا د مور بې وخته مرګ يو لاشعوري اثر وو ـ چې زما محروميانو ته ئې د اظهار چلونه زده کول ـ

وړمبي شعرونه ما په کال ۱۹۷۰ء او ۱۹۷۱ء کښې ليکلي دي ـ چې دغه وخت زما عمر ايله دولس کاله وو ـ ما دغه هر څۀ ځان سره خوندي ساتلي دي ـ ځکه چې دغه بې وزنه او بې بحره شعرونه زما د ادبي ژوند اغاز دے ـ زۀ لکه د نن دغه وخت هم د شاعرۍ د رموزو نه خبر نۀ ووم ـ چې په کلي کښې به څۀ

اوشو ما به په ماتو ګوډو ټکو کښې اولیکل . یو ځل چا زما پلار ته دا خبره اوکړه . هغه ما ته اووئے چې هلکه تهٔ سبق وائې که شاعري کوې ؟ ما ورته اووئے چې دادا زهٔ د شاعرۍ نه څهٔ خبر یم خو چې دغه بیتونه مې ورته واؤرول نو وئې خندل او سینې ته ئې جوخت کړم . د محترم پلار د سینې دغه تودوالي زهٔ ښهٔ ,,تود،، کړم دغه بیتونه داسې وو .

ساتلې مې په کور دي ځکه اورې مې خبرې
زما ښکلې کونترې
څهٔ تورې دي څهٔ سپینې خو دي ټولې زورورې
زما ښکلې کونترې

او چې کله لسم ته رسیدم نو بیا زما د شاعرۍ غږ په ټول کلي کښې خور شوے وو . د لسم نه پس ما د سوات په جهانزیب کالج کښې داخله واخسته . دغه وخت د سوات په کچ د فضل رحمان فیضان نه علاوه ، عبدالغني قصاب ، حلیم سرحدي ، سیدعمر ناصح او نور څو مشران مشهور وو . زما د هغوي سره لیدهٔ کاتهٔ اوشو . ادبي تنده مې نوره هم سېوا کېده . د کالج په رساله ,,ایلم،، کښې به مې شعرونه او افسانې چاپ کېدل او دغه شان مې ادبي سفر د نوؤ نوؤ پړاؤنو سره اشنا کېدو .

بیا په کال ۱۹۷۸ء کښې ما د خپل کالج ستېج ډرامې ,,انسان او شیطان ،، له سندرې اولیکلې ـ د ډرامې په مرکزي کردارونو کښې فضل رحیم او محفوظ الرحمان شامل وو ـ ما په دغه ډرامه کښې د سکول د یو استاد پارټ اوکړو ـ دا زما وړمبے او اخري ستېج ډرامه وه ـ د دومره هلو ځلو نه پس په کالج کښې هم ما ځان ته د لیک او فن په حواله یو څۀ نوم ګټلے وو ـ زما نزدې استاذانو چې ورکښې محترم پروفېسر شیرافګن ، محترم پروفېسر قادر خان ، محترم پروفېسر نور محمد او محترم پروفېسر میاں محب جان شامل دي ـ زما ښۀ په نره ډاډګیرنه کوله ـ ما په تقریري او تحریري مقابلو کښې برخه اولرله او نن چې کله کله د ځوانۍ پاڼې لټوم نو ورکښې د دغه دور سندونه خامخا وینم ـ

د څوارلسم پاس کولو نه پس چې کله ما د خپل استاد قادر خان صیب نه د وړاندې تعلیم پوښتنه اوکړه ـ نوهغه راته اووئیے چې کراچۍ ته لاړ شه ـ زۀ وارخطا شوم ـ سوچ مې کولو چې هغه ماته د پېښور په ځائے د کراچۍ مشوره څنګه راکوي ـ د هغوي دلیل دا وو چې سبق په کتابونو کښې لږ او په مشاهده کښې زیات وي ـ ما د استاد اومنله او چې کله ما بیا د سیاسیاتو په شعبه کښې د کراچۍ یونیورسټۍ په خورو ورو

دشتونو کښې چکرې لګولې .نو د خپل استاد خبره مې یاد ده .
دغلته د ملک د هر ګوټ د خلقو سره د اشنایۍ نه علاوه د
عرب اماراتو، فلسطین ، ملیشیا او نورو ګڼو ملکونو د طالب
علمانو سره ناستې پاستې زما پوهه سېوا کړه .ما عملي
,,سیاسیات،، اولوستل .زما د ورکوټي کلي ورکوټې ذهن نور
هم پراخه شو .
د سبق پوره کولو نه پس چې زۀ کلي ته راغلم .نو د
روایاتو بندونه رانه تاؤ شول .ما وادۀ اوکړو .خو زما دغه ګام هم
غالباً په خپل خاندان کښې وړمبې باقاعده بغاوت وو .دغه
بغاوت په خپله مینه او خپله خوښه وادۀ وو .د وادۀ نه پس بیا ما
مختلفو شعبو ته د نوکرۍ دپاره اولیکل .دا د کال ۱۹۸۳ء
خبره ده .کله چې اداري مضبوطې وې .د میرټ خیال ساتلے
کېدو .د قومي او صوبائي اسمبلۍ ارکان به نۀ خرڅېدل .چې
چرته مې درخواست ورکړے وو . هلته نه راته اطلاع راغله زما
وړمبې پوسټنګ د لکچرار په حېث په ګورنمنټ فیډرل کالج
پېښور کښې اوشو .خو ددې سره څنګ په څنګ راپسې د ریډیو
د نوکرۍ خبر هم راغے .نو زما دننه فنکار راؤپارېدو .زۀ خپل د
ماما ځوي ښاغلي شیربهادر خان چې د ډي .سي .او په حېث ئې
خپله نوکري سرته رسولې ده پسې ورغلم .مشوره مې ترې

واخسته. او هغه ماته زما د زړۀ خبره اوکړه. ځکه نو ما د کالج په ځائے د فن دنیا ته د راتلو هڅه اوکړه.

د نومبر د میاشتې په ۳ تاریخ کال ۱۹۸۳ء کښې زۀ د پروډیوسر په حېث ریډیو پاکستان ته راغلم. په اسلام آباد کښې د ټریننګ د تکمیل نه پس چې زۀ کله پېښور ریډیو ته راغلم نو دا هر څۀ ما ته یو خوب ښکاریدل. بیخي خوب... ځکه چې د کومو لویو فنکارانو نامې ما اوریدلې وې د کومو لویو لویو لیکوالو ما نومونه لوستلي وو. هغه ما په خپلو سترګو لیدل. په خپلو سترګو به مې باور نۀ راتلو.

ورځې تیریدې او زۀ په دغه رنګونو کښې ورکیدم. په وړمبو کالونو کښې محترم نواب علي خان یوسفزے، محترم سردار علي، محترم ایس. ایم. اسحاق محترم عمر ناصر، محترم عزیز الرحمان (مرحوم) زما ډېره لاربښودنه اوکړه او که زۀ دا ووایم چې زما ریډیو ته په راتلو کښې د محترم سردار علي ډېر لوئے لاس دے. نو بده به نۀ وي. ځکه چې هم ددې په ناپیژندګلو کښې د کالج په ورځو شپو کښې زما نغمې په ریډیو کښې ریکارډ کړې او نشر کړې وې.

زما د شاعرۍ وړمبے باقاعده مجموعه ,,ګیلې،، په کال ۱۹۷۸ء کښې چاپ شوې وه. ریډیو ته د راتګ نه پس زما

دغه تنده ورځ تر ورځې سېوا کېده . شعرونه ، ډرامې ، فیچرونه به مې لیکل . پروګرامونه به مې راجوړول او دغه رنګ مې د اوریدونکو سره د مینې رشتې ورځ تر ورځ پخیدې .

په دغه ریډیائي سفر کښې زۀ د ملک نه باهر تر انډونیشیاء پورې لاړم . ډېر څۀ مې اولیدل . ډېر څۀ مې اوکتل او ډېر څۀ مې زده کړل . په کال ۱۹۹۲ء کښې زۀ د محترم مشر افضل خان لالا د پرائیویټ سیکتر په حېث د امور کشمیر او شمالي علاقات وزارت ته لاړم او چې کله به د خپل مشر سره څنګ په څنګ د مختلفو میټنګونو په سلسله کښې کله په وزیراعظم هاؤس کښې د پاکستان وزیراعظمې ته مخامخ ناست ووم او کله به د پاکستان صدر په صدارتي ماڼۍ کښې ناست ووم . نو فکر به مې شاته لاړو . خپل ورکوټې کلے د خپلو خټو ګټو کور به مې رایاد شو . سترګې به مې پټې کړې . د الله تعالی شکر به مې ادا کړو . چې لویه خدایه ... دا هر څۀ ستا له لوري انعام دے . د ګران مشر افضل خان لالا د وزارت په دغه دور کښې او بیا د نګران حکومت په دور کښې د پرائیویټ سیکرټري دغه ساعتونه که هر څو زما د سیمابي فطرت سره سم نۀ وو . خو زما د پوهې او زده کړې په حواله ډېره مهمه دوره ده . چې زۀ پرې ټول عمر فخر او ویاړ کولے شم .

ما چې ځنګه ځنګه د وخت په تال جوتې وخوړې ـ نو ورسره ورسره مې د خپلې زده کړې سلسلې ته هم دوام ورکړو ـ د سياسياتو سره سره مې په پښتو او اردو ادبياتو کښې هم ډګرياني تر لاسه کړې ـ زۀ ماشوم ووم ، ځلمے شوم ، په ويښتو کښې سپين ډکې ښکاره شول ـ نو پوهه شوم چې د شپږو بچو پلار يم ـ خو ناقراري مې لا هغسې ناقراره ده ـ

چې په ويښتو کښې مې سپين اوځليدل
د لېونتوب نشه مې لا زياته شوه

د کتابونو ليکلو کوم باقاعده سفر چې ما د ,,ګيلې ،، نه شروع کړے وو ـ هغه هم ورسره ورسره په وړاندې روان وو ـ د نظم او نثر ډېر کتابونه مې چاپ شول ـ په ورځپاڼو او مجلو کښې مې په بيلا بيلو موضوعاتو ګڼ کالمونه چاپ او خوارۀ شول ـ په کال ۱۹۹۱ء کښې زما يوې نعتيه مجموعې ,, صلو عليه واله،، ته د پاکستان د صدر له خوا ، په کال ۲۰۰۷ء کښې زما دريمې نعتيه مجموعې ,, جلوې ،، ته د پاکستان د وزيراعظم له خوا او په کال ۲۰۱۰ء کښې د پاکستان د وزيراعظم له خوا په قامي سطح ايوارډ ورکړے شو او بيا د ايوارډونو دا سلسله ډيره وړاندې لاړه ـ ګڼو ادبي تنظيمونو د ملک دننه او ملک نه باهر زما د ادبي هلوځلو د اعتراف په توګه ماته ډېر ايوارډونه راکړل ـ

زما بې شمېره اوریدونکو ماله مینه راکړه.

نن چې زۀ د ژوند دغه سفر ته په شا ګورم نو زړۀ مې ډاډه شي. نن زما د مئینانو شمېره سېوا ده. د پښتونخوا تقریباً هر فنکار زما شعرونه په خپل خپل انداز وئیلي دي. زما مئینان ئې اوري او چې کله د هغوي احساسات تر ما را رسي نو زما ,,لېونتوب ،، نور هم سېوا کېږي. که هر څو دغه کوشش زما ,,دیارلسم کتاب ،، دے. خو زۀ لانن هم د شاعرۍ په رموزو نۀ پوهېږم. زۀ نن هم په هاغه لټو ګرځم کوم لټون چې ما پینځه دېرش کاله وړاندې شروع کړے وو. د وختونو د یون سره به زۀ نور هم دغه رنګ ورک او لېونے لېونے ګرځم. زۀ نۀ پوهېږم چې زما مئینان به زما دې نوي ,, لېونتوب ،، ته په کوم نظر وګوري. خو چې هر څۀ دي د ,, لېونتوب ،، د جذبو یو لېونے اظهار دے.

زۀ خو سترګې د اشنا ستا یم لایقه
په سندرو په غزلو نۀ پوهېږم

ستاسو د ټولو
لایق زاده لایق
جنوري ۲۰۱۱ء

# ابتداء

پــــه نامــــه د هغــــه رب مــــې ابتــــداء ده
چې رحيم دے هم كريم دے هم رحمان دے
چــې ئــې مالــه د ليكلــو توفيــق راكــړو
دا ئې مينه ده ، كرم دے ، لوئے احسان دے
جل جلاله

# اعتراف

چې زما په قلم راشي لويه خدايه
دا شعرونه دا لفظونه واړه ستا دي
چې مې خيال پرې له اوله سندريز دے
دا رنګونه ښائستونه واړه ستا دي
جل جلاله

# نُور

دا چې زۀ دومره غاوره یم دا چې دومره بې پروا یم
ما د ژوند په خور کتاب کښې پدې نوم کتلے فال دے
زۀ به څۀ یم څۀ به نۀ یم دا زما لیکل به څۀ وي
څۀ چې وایم څۀ چې لیکم دا د چا د نُور کمال دے
صلوعلیه واله

# باور

زمـــا ربـــه دا مـــنم چـــې ګناهګـــار یـــم
خـو رحـیم ئـې سـتا پـه رحـم مـې بـاور د ے
زۀ د هاغـــــه نـــازولي امتـــــي یـــم
چـې لـه هـر چـا ,, معتبـر وو ، ، معتبـر د ے
صله علیه واله

# راز

خوشـــنودي کــه د خــالق درتــه پکــار وي
د مخلــوق د خوشـــنودئ هنــر ایــزده کــه
,, لامکــان ،، بــه دې پخپلــه پښــو تــه راشــي
تــهٔ یــو ځــل د ,, عــاجزۍ ،، هنــر ایــزده کــه

# ذات

هــر يــو راز بــه د ژونــدون درتــه ښــکاره شــي
که يو ځلې د ,, خپــل ذات،، پــه راز خبر شــې
د عظمـــت فلســـفه دومـــره ګرانـــه نـــۀ ده
ځان کړه خاورې نو پخپله به ,, ګـوهر ،، شــې

# سردار

سـرداري د شـملو کلـه ده محتاجـه
سر چې ښکته شي سجدې ته نو ,,سردار،، شي
څـۀ مـزه پـه محبـت کښـې پـاتې نـۀ شـي
,,لېونتـوب،، چـې د نـازونو منـت بـار شـي

# نکته

د وحـدت نکتـي تـه کلـه رسـېدے شـي
فلسـفي کـه د سـقراط کـه افلاطـون دي
پـه نظـر د قناعـت کښـي واړه هـیڅ دي
خزانـي کـه د شـیداد کـه د قـارون دي

# محبت

عاجزي او خاکساري په هره ساه کښې
سړیتوب دے هم معراج د شرافت دے
نور کارونه د دنیا واړه عبث دي
غوره کار تر همه واړه ,, محبت ،، دے

# دار

چـې ټپـه سـتا د ښائسـت مـې کړلـه پورتـه

,, لېونتـوب ،، راتـه آواز اوکـړو چـې ,,دایـم،،

چـې د مینـې بـې صـبري رابانـدې زور شـوه

ما د دار په سر هم چغې کړې چې ,, ستا یم ،،

# عمر

په ځوانۍ کښې له هر غمه بې پروا وم
خبر نه ومه چې ژوند څنګه تیرېږي
چې ویښتو کښې زما سپین په لګیدو شو
نو شوم پوهه چې له سیره څو پخیږي

# شعر

دا مـــنم چـــې تُـــک بنـــدي بـــه وي اســـانه
خـــو د ښـــۀ شـــعر لیکـــل څـــۀ اســـان نـــۀ دي
شـــاعري خـــو لـــــه زړۀ وینـــې تویـــول دي
لـــه زړۀ وینـــې تویـــول څـــۀ اســـان نـــۀ دي

# کتاب

زۀ چې کتاب پسې کتاب لیکم
حال د زړګي خانه خراب لیکم
د لېونتوب د هرې ساه په نامه
یو بې عنوانه اضطراب لیکم

○

چا وئې چې اسانه ده
مینه بلا ګرانه ده

ستا شوم تهٔ زما نهٔ شوې
دا ګیله مې تا نه ده

ګوره چې در ګورمه
لا مې وینه ځوانه ده

ورانه په هر چا ښهٔ ده
مونږ باندې چې ورانه ده

اوښکه د ښو په سر
حُسن ته حیرانه ده

زړۀ مې قرار نۀ کوي
ښکاري را روانه ده

غږ لایقه اونۀ کړې
ډېره بد ګومانه ده

## عنقا

چې سختې دربانــدې راشي
یاران تښتي اشنا تښتي

چې غمونه په زړۀ زور شي
خوب عنقا شي خندا تښتي

○

دا وختونه بې لتانه
نۀ تیرېږي یه جانانه

اوسنۍ خبره نۀ ده
زۀ مئین یم له پخوا نه

د زړګي کاله ته راشه
په ارمان پسې ارمانه

جدایۍ دې کاني اوکړي
په ژوندون شومه ستومانه

د خپل زوره خبر نۀ ئې
د ښائست د کلي خانه

په دنیا مې پروا نشته
تهٔ خفه نهٔ شې له مانه

د ناوې لاندې مې شپه شوه
تېښتېدمه له بارانه

زړهٔ دې صبر کړه لایقه
ګیله مهٔ کوه د چا نه

## شعر

ستا په سر باندې مې ټول خپلوان پردي کړل
خو ارمان دے یوه تهٔ مې خپله نهٔ کړې

○

چـــې لتــــا کلـــه جـــدا شـــوم
نـــو د خلقـــو د خنــــدا شـــوم

چـــې رایـــاد شـــوې نیمـــه شـــپه کښـــې
ســـتا تصـــویر تـــه پـــه ژړا شـــوم

تـــهٔ د چـــا شـــوې خبـــر نـــهٔ یـــم
زهٔ چـــې ســـتا وومـــه نـــو ســـتا شـــوم

چـــې دې غـــږ راتـــه ونکـــړو
فکـــر یـــوړم وار خطـــا شـــوم

ســـتا خبـــرې مـــې شـــوې یـــادې
ځکـــه تاتـــه پـــه دعـــا شـــوم

ابتـــــداء مــــــې شــــوله هیــــره
چــــې خبــــر لــــه انتهــــا شـــوم

څــــۀ بـــه صـــبر شـــم لایقـــــه
لامئــــین شـــوم چــــې بـــوډا شـــوم

## لمبه

چــــې خــــوارۀ خـــوارۀ راګــــورې
حســــــرتونه ســــره لمبــــه شــــي
محبــــت چــــې لیونتـــوب شـــي
امیدونــــــه ســــره لمبــــه شــــي

○

پــــــه ګلونـــــــو پســــــــې ګـــــــرځم
ســــــتا خــــــاپونو پســــــې ګـــــرځم

ســـــــــوګیرو یمـــــــــه وهلــــــــــے
پـــــه خوبونـــــــو پســـــــې ګــــــرځم

د بــــــې ســـــرو پــــــه وطـــــن کښـــــې
پـــــه ,, ســــــرونو ،، پســـــې ګــــــرځم

چـــــې مـــــې ســـــتا پـــــه نامـــــه کـــړي
ماښـــــــامونو پســــــــې ګـــــــــرځم

د هجـــــران پـــــه توروشـــــپو کښـــــې
ســــــــحرونو پســـــــــې ګـــــــــرځم

پـــــه دشــــــتونو کښـــــې لایقـــــــه
بهـــــــارونو پســـــــې ګـــــــــرځم

○

چـــې مــــې کـــړے محبـــت دے
ســــــتا د حُســــــن برکــــــت دے

بـــــې لتـــــا يمـــــه نيمګــــــړے
دروغ نـــــــۀ دي حقيقـــــــــت دے

دا زمـــــــونږ زنـــــــدګي ځــــــۀ ده
د ,, بتـــــــانو ،، عبـــــــادت دے

د رِنـــــدو پــــه دغـــه ښـــار کښــــې
د ,, يـــــو ســـــترګي ،، حکومـــــت دے

,, لېونتـــوب ،، پـــه عاشـــقۍ کښــــې
څــــــومره ښــــکلے بغــــاوت دے

ښـــــهٔ پـــــه نـــــره دروغ وایـــــه
دلتـــــه دغـــــه سیاســـــت دے

درتـــــه ســـــم کـــــتلے نشـــــم
مـــــړې دا څـــــهٔ مصـــــیبت دے

پـــه ,, خپـــل کـــور ،، کښــــې هـــم بـــې کـــوره
دا لاکـــــوم یـــــو شـــــرافت دے

هـــــر یـــــو شـــــعر مـــــې لایقـــــه
د غـــــټ ســـــترګي امانـــــت دے

# شعر

چې وخاندي مسکۍ شي په زړګو کرښې راکاږي
تـهٔ ګـوره لېـونۍ تـه پـه لمبـو کرښـې راکـاږي

○

نه پوهيږمه څه چل دے
چې مې اور په زړګي بل دے

ما له ډېره مينه راکه
لا نيمګړے مې غزل دے

,,شيخ فريده،، غلے ښه ئې
دلته هر يو سړے غل دے

ګړندي شئ راهبرانو
لا خو ډېر لرې ,,منزل،، دے

پښتانه پکښې دل کېږي
که ,,مزار،، دے که ,,کابل،، دے

د زړګـــــي پـــــه خــــوره دشـــــته
هــــــر ارمـــــان وهلــــــې جـــــل دے

چــــــې رښـــــتيا وايــــــم لايقـــــه
هــــــر ســـــړے وائــــــي پاګــــــل دے

## شعر

زمـــــا د زړۀ پوښــــــتنه ثلـــــه كــــوي
د آئينــــــې ســـــره خبـــــرې زده كــــړه

○

څـــهٔ مـــې ســـتا قاتـــل نظـــر خـــوري
څـــهٔ مـــې دا زړګـــې کـــافر خـــوري

د مابښـــام لـــوظ ئـــې هېـــر وي
قســـمونه هـــر ســـحر خـــوري

لـــه ســـاده حســـن دې زار شـــم
هـــر ارمـــان پـــه ډېـــر هنـــر خـــوري

چـــې ,, بـــې ســـره ،، کـــوم انســـان شـــي
دا قـــانون دے هغـــه ,, ســـر ،، خـــوري

ســـتا ریبـــار هـــم عجیبـــه دے
پـــه خبـــرو کښـــې ,, خبـــر ،، خـــوري

اعتمـــــــــاد او یقـــــــــین دواړه
ګمانونــــــه سراســـــر خــــوري

چــــــې را اوګـــــــوري لایقـــــــه
عقـــل فکـــر مـــې اکثـــر خــوري

## انتظار

ځـــواني مـــې تېـــره ستـــا پـــه طمـــع کړلـــه
بیـــا دې هـــم مـــوړ پـــه انتظـــار نـــۀ شـــومه
د محبـــت نشـــه مـــې کمـــه نـــۀ شـــوه
لیـــونۍ شـــومه خـــو پـــه لار نـــۀ شـــومه

○

که هر څو رانه جدا ئې
خو زما په تن کښې ساه ئې

چې ځواني مې درنه زار کړه
اوس خفه ئې که پخلا ئې

دې کښې نور څۀ وئیل ګران دي
چې زما ئې نو زما ئې

تا هر وخت له خدایه غواړم
تۀ مې سوال تۀ مې دعا ئې

زۀ چې کله شم یوازې
راځې خیال ته په خندا ئې

مـــــا د زړۀ خبــــــره وکــــــړه
داســـــې ولـــــې وار خطــــا ئــــې

تـــــۀ زمـــــا د پـــــاکې مینـــــې
انتهــــــا وې انتهــــــا ئــــــې

زۀ خـــو ,, ســـتا ،، شـــومه لایقـــه
راتـــه وایـــه تـــۀ د ,, چـــا ،، ئـــې

## خواهش

کــه زۀ دې هیــر یمــه پــروا نشــته خــو
پــه زړو لارو بانــدې پیښــه اوکــړه
چــې لاتــر ننــه مــا او تــا یــادوي
پــه هغــو لارو بانــدې پیښــه اوکــړه

○

د صــــبر چـــل نـــهٔ راځـــي
ځـــهٔ عـــلاج خپـــل نـــهٔ راځـــي

ډېـــــر قســــمونه وخـــوري
ولـــې هـــر ځـــل نـــهٔ راځـــي

چـــې زړهٔ تـــرې صـــبر کړمـــه
پـــه دې مـــې ,,ول، ، نـــهٔ راځـــي

چرتـــه چـــې غـــل اوســـېږي
هلتـــه کښـــې غـــل نـــهٔ راځـــي

دا درتـــــه چـــــا وئیلـــــي
پـــه حســـن جـــل نـــهٔ راځـــي

آخر ئې مور ته اووې
هاغه پاګل نهٔ راځي

لايقه مينه کوو
خبرې سل نهٔ راځي

## سوال

تاته سم کتلے نهٔ شم
نهٔ پوهېږم چې دا ولې
منتونو کړمه ستړے
تهٔ مې نکړې پخلا ولې

○

یـــو جـــادو دے چـــې راخـــور دے
یـــو ارمـــان دے چـــې شـــمکور دے

لیـــوني هـــم ,,لیـــوني ،، کـــړي
محبـــــت کښــــې بـــــلا زور دے

وایـــه کـــوم کـــوم درتـــه یـــاد کـــړم
دلتـــه هـــر خـــوک ســـړي خـــور دے

مـــا دې ســـتا لـــه مخـــه وړي
کـــه تهمـــت دے کـــه پېغـــور دے

دا چـــې لـــوټي لـــوټي ښـــکاري
دا زمـــا د ,,بابـــا ،، کـــور دے

چې مې یو ځل ده لیدلې
لا تر اوسه مې حال نور دے

بنکلې څکه دے لایقه
چې زما د سترګو تور دے

## جرګه

د رقیب څۀ مجال او څۀ همت دے
د زړګي سره چې جدا به مو کړي
راځه چې دواړه سره روغه او کړو
زمونږه شوک دي چې پخلا به مو کړي

○

پــــه مــــا شــــوے څــــۀ اثــــر دے
ځکــــه ژونــــد مــــې در پــــه در دے

اوس ښــــکاره راځــــه جانانــــه
پــــه مــــونږ تــــول کلــــے خبــــر دے

دا چــــې ګــــران يــــم پــــه يــــارانو
دا پــــه مــــا د ,, چــــا ،، نظــــر دے

حقيقــــت د مينــــې څــــۀ دے
د ګمــــان نــــه هــــم بهــــر دے

چــــې لتــــا صــــبريدے نــــۀ شــــم
دا جــــادو دے کــــه منتــــر دے

ستا غرور به اخر مات کړي
لېونتوب مې زورور دے

دواړه ستا له سترګو زار شه
که مې زړۀ دے که ځيګر دے

چې د بل حقونه وخوري
دلته هاغه سړے ,,نر،، دے

بيا په زړۀ مې راوريږي
بيا هم هاغه مازيګر دے

چې هر داؤ ئې دے بائيللے
لايق هاغه جوارګر دے

★★★

○

په سلګو مو شپه صبا کړه
تا خیرې کړې ما دعا کړه

نور څه نه غواړم خاونده
زما مینه ماله راکړه

څکه پته پاتې نه شوه
لیونتوب مینه رسوا کړه

چې یارانو کړم یوازې
خپله لاره مې جدا کړه

وایه نور درله څه درکړم
ستا په نوم مې هره ساه کړه

مــــا څـــــۀ غـــــږ کـــــولے نشـــــو
رقيبـــــانو چـــــې خنـــــدا کـــــړه

اوس څـــــۀ مـــــۀ وايـــــه لايقـــــه
تـــــا همـــــېش خپلـــــه رضـــــا کـــــړه

# چنارونه

مــا زيګر چــې نمــر د غرونــو ســر لــه راشــي
ســتا يادونــه راتــه ســيوري ســيوري کيــږي
مــا او تــا چــې ګــواه کــړي وو پــه مينــه
چنارونــه راتــه ســيوري ســيوري کيــږي

○

داسې چې ته خفه شوې
وايه په څه خفه شوې

چې زه دې کړم لېونے
رانه هله خفه شوې

ما وئے پخلا به دې کړم
ته وے خفه ، خفه شوې

ما چې له ډيره غمه
وکړه تپه خفه شوې

زړه به مې اوچوي اشنا
که ته ايله خفه شوې

مــــــا دې نازونــــــــه شــــــــمېرل
تـــــهٔ رانـــــه ښـــــهٔ خفـــــه شـــــوې

ښـــــــهٔ پوهيــــــــــدم لايقــــــــــه
تـــــهٔ چــــې نــــا زړهٔ خفــــه شــــوې

# تضاد

د ,,وحـدت،، د نـوم نـه څکـه لـرې تښـتي
د پښــتون مــزاج همــه تضــاد تضــاد دے
يـــو د بـــل خبـــره کلـــه ده منلـــې
هــره ســاه هــره لحظــه تضــاد تضــاد دے

○

چـــې زړګـــے مـــې پـــرې ودان دے
,, يـــو ســـړے ،، دے پـــه مـــا ګـــران دے

ځکـــه کـــوږ لـــه خيالـــه ګرځـــي
د ښائســـــت د کلـــــي خـــــان دے

,,مـــړې،، ســـم ســـم راتـــه ګـــوره
ســـتا پـــه دې کښـــې څـــۀ تـــاوان دے

حســـن څـــۀ دے مينـــه څـــۀ ده
يـــو فريـــب دے بـــل ګمـــان دے

د زړګـــي لـــه کـــوره نـــۀ ځـــي
يـــو ضـــدي غونـــدې ارمـــان دے

پیدا کړې دي پښتون یم
ربه دا دي لوئې احسان دے

یو زما پوښتنه نکړي
نور په هر چا مهربان دے

چې مې ګسه سترګه رپي
زړۀ مې وائي را روان دے

هر یو شعر مې لایقه
د غټ سترګي نه قربان دے

## شعر

زما او ستا خبره ګرمه ښکاري
کلي کښې شور څۀ بې سببه نۀ دے

○

ټـــول عمـــر مـــې اوژړل پـــه تـــا پســـې
چـــا ژړلـــي دومـــره دي پـــه چـــا پســـې

مـــا چـــې د رقیـــب نامـــه وریـــاده کـــړه
دې وئیـــل بـــلا پســـې بـــلا پســـې

تاتـــه مـــې یـــو ځلـــې ځـــۀ کتلـــي دي
ګرځـــي نظرونـــه اوس پـــه مـــا پســـې

مـــا نـــه ځـــۀ تپـــوس د خنـــدا مـــۀ کـــوه
مـــا خـــو تـــل ژړلـــي دي ژړا پســـې

ګـــرځم پـــه هـــر لـــوري وارخطـــا یمـــه
پښـــې مـــې شـــوې تنهـــا کـــې پـــه وفـــا پســـې

شــپه د هجــر نــوره هــم اوږده شــوله
یمــه ســترګې پــه صــبا پســې

دغــه لایــق څــوک د ے ورتــه وګــورئ
ګرځي ,, پردي ښار ،، کښې په اشنا پسې

## دار

غــرور د مینــې ســر کــوزري نــۀ منــي
پــه ســرولمبو کښــې یکــه زار غــواړي
د لیونتــوب نشــه مــې کمــه نــۀ ده
ځکــه خنــدا پــه ســر د دار غــواړي

○

چـې پـه لوظونـو مـې اعتبـار نـۀ راځـي
ځکـــه مئـــين زړۀ تـــه قـــرار نـــۀ راځـــي

اخـــــر شــــو وران د ښائســــتونو کلـــــي
اوس ,, لېـــوني ،، پـــه دغـــه لار نـــۀ راځـــي

دلتـــه هـــر څـــوک د ځـــان پـــه غـــم اختـــه دي
دلتـــه کښـــې څـــوک د چـــا پکـــار نـــۀ راځـــي

خپلـــه ځـــواني مـــې ورتـــه خـــاورې کړلـــه
نـــور رالـــه چـــل د انتظـــار نـــۀ راځـــي

زړۀ تـــه مـــې ګـــوره پـــرې شـــمېره زخمونـــه
مـــونږ لـــه ددې خبـــرو شـــمار نـــۀ راځـــي

تــــهٔ د ګلونــــو تقاضــــې مــــهٔ کــــوه
لېــونۍ دلتــه کښــې ,, بهــار ،، نــهٔ راځــي

ځــهٔ چــل خــو د ے لايقــه هســې نــهٔ ده
ځــو ورځــې کيــږي چــې ريبــار نــهٔ راځــي

# يا قربان

ســـتا هـــر غـــم مـــې د زړهٔ کـــور تـــه
را روان د ے ښــــــهٔ پــــــه نــــــره
مـــونږ د دار پـــه ســـر هـــم کـــړے
,, ياقربـــــان ،، د ے ښـــــهٔ پـــــه نـــره

○

چـــې د زړۀ پـــه صـــبرولو نـــۀ پـــوهیږم
ځکـــه ژاړم پـــه خنـــدلو نـــۀ پـــوهیږم

دا دنیـــا بـــه ټولـــه هیـــره کـــړم جانانـــه
خـــو دا ســـتا پـــه هېرولـــو نـــۀ پـــوهیږم

مـــودې اوشـــوې تـــر ســـحره ســـتوري شـــمارم
نـــور د لارې پـــه څـــارلو نـــۀ پـــوهیږم

دا چې ښکته ښکته ګورم په سلګو کښې
زۀ د ,, ډېـر څـۀ ،، پـه وئیلـو نـۀ پـوهیږم

یـــه زمـــا لېـــونۍ مینـــې بـــې لـــه تانـــه
د ژونـــدون پـــه تیرولـــو نـــۀ پـــوهیږم

د ارمان قلم په لاس کښې غلي ناست يم
د تصوير په جوړولو نۀ پوهېږم

زۀ خو ستر ګې د اشنا ستايم لايقه
په سندرو په غزلو نه پوهېږم

## رښتيا

خبر نۀ يم چې به کوم انجام ته رسي
ورځ تر ورځې سيوا کيږي زما مينه
دا چې نۀ راځي خوبونه تر سحره
په رښتيا چې رښتيا کيږي زما مينه

○

ستا په طمع د راتلو مې شپه سبا کړه
په ورو ورو سلګو مې شپه سبا کړه

په ګریوان مې رنړې اوښکې بهیدلې
یو تصویر ته په کتو مې شپه سبا کړه

د بې لوظې لوظ کله پوره نشو
په کچه کچه وعدو مې شپه سبا کړه

چې دې پاتې کړم یوازې نیمه لار کښې
خپل ارمان ته په ګیلو مې شپه سبا کړه

نور به حال د جدایۍ درته څه وایم
په تیرهٔ تیرهٔ ازغو مې شپه سبا کړه

د وهمونو ګمانونو په زندان کښې
د ,, یقین ،، په دلاسو مې شپه سبا کړه

چې مې راغلې تصور ته غلے غلے
نو د زړهٔ په درزیدو مې شپه سبا کړه

ستا په طمع طمع ناست وومه لایقه
په لمبو کښې په لمبو مې شپه سبا کړه

## شعرونه

هر سرے رباب په ترخ کښې بل ته وائي
په دې ښار کښې په سندرو پابندي ده
که زردار مستي کوي نو پروا نشته
د بې وسو په ,, خندلو ،، پابندي ده

○

بس که اشنا خبرې مه بدلوه
مړ به کړې ما خبرې مه بدلوه

لکه چې ځان پېژنم تا پېژنم
قربان لتا خبرې مه بدلوه

په توقو هسې خفه کېږه خیر دے
خو په رښتیا خبرې مه بدلوه

چې کله کله ور کښې ما یادوې
پام کوه دا خبرې مه بدلوه

لکه د خوب مې د لیمو کاله ته
راځې په غلا خبرې مه بدلوه

چې په رضا خپله رضا دې اوکړه
اوس په رضا خبرې مه بدلوه

نن په سلګو شوه بیا ئې غلې اووئے
لایقه بیا خبرې مه بدلوه

# آئینه

چې آئینې ته وې سحر ولاړه
کتل دې څان ته د ښائست په نظر

بیا دې په مخ اوښکې لړې لړې شوې
څان سره غلې شان سلګو ونیوې

ستا دې قسم وي په رښتیا اووایه
بل څۀ دې یاد شو که نه زۀ دې یاد شوم ؟

○

ځائے په ځائے اودرېږم چې دا څۀ چل دے
ځان سره ګونګېږم چې دا څۀ چل دے

تا چې په خندا چا سره اووينم
زړۀ کښې خفه کېږم چې دا څۀ چل دے

هر څو که سپين ږيرے شوم بوډا شومه
بيا هم مئينېږم چې دا څۀ چل دے

خدائے خبر چې څۀ راباندې شوي دي
خوب کښې راويښېږم چې دا څۀ چل دے

څومره چې دروغ وائې چل ول کوې
لا په تا نازېږم چې دا څۀ چل دے

ستا د ناز خبرې چې رایادې کړم
خاندم نهٔ پوهېږم چې دا څهٔ چل دے

اووایه لایقه رښتیا اووایه
ستا نه نهٔ صبرېږم چې دا څهٔ چل دے

## رښتیا رښتیا

زما مینې څهٔ خبر ئې
چې دا عمر بې له تا نه
ډېر نیمګړے نیمه خوا دے
تهٔ خوارهٔ خوارهٔ راګوره
چې سکون مې تا لانهٔ شي
چې احساس مې لمبه نهٔ شي

○

مـــا نـــه زړګـــے بیـــا مـــرور شـــوے دے
اور نـــه لـــوګـے بیـــا مـــرور شـــوے دے

مـــا چــې پــرې همــیش نازونــه کــړي وو
,, هاغــه ســړے ،، بیــا مــرور شــوے دے

برنــد برنــد راتــه ګــوري خــو غــږ نـۀ کــوي
نـــن لېـــونے بیـــا مـــرور شـــوے دے

پـــاتې د ژونـــدون تپـــه نیمګـــړې ده
,, سُر ،، نه چې ,, لے ،، بیا مرور شوے دے

مـــا پـــه منتونـــو پخـــلا کـــړے وو
اوګـــوره ,,دے ،، بیـــا مـــرور شـــوے دے

اوس د لېونتوب کالــۀ تــه نــۀ راځـــي
مــونږ نــه ســپرلے بيــا مــرور شــوے دے

څـــۀ بـــه اوس لايقـــه شـــاعري کـــوؤ
دا چـــې لالـــے بيـــا مـــرور شـــوے دے

## شعرونه

تانـــــه هيـــــر شـــــوے يمـــــه
ځکـــــه بـــــې غمـــــه ګرځـــــې

راشـــــه خبـــــر مـــــې واخلـــــه
چرتـــــه صـــــنمه ګرځـــــې

څـــــۀ چـــــل خـــــو دے لايقـــــه
ســـــترګې پُـــــر نمـــــه ګرځـــــې

○

شپه او ورځ سوچونو خراب کړې یم
زه د چا غمونو خراب کړې یم

دا چې تر صبا اوده کیدې نه شم
شک او ګمانونو خراب کړې یم

اوس مې په خپل ځان هم باور نه راځي
داسې ستا لوظونو خراب کړې یم

کرښې چې په هر دیوال راکاږمه
زه خپلو شعرونو خراب کړې یم

ما د مینې هر یو داؤ بائیللې دې
ستا د مخ خالونو خراب کړې یم

مـــۀ کـــوه تپـــوس زمـــا نـــه مـــۀ کـــوه
ګلـــې ســـتا يـــادونو خـــراب کـــړے يـــم

پوهـــه يـــم لايقـــه پـــه ځـــان پوهـــه يـــم
خپلـــو عـــادتونو خـــراب کـــړے يـــم

## ځان

څـۀ سبب خو بـه لـرې چـې تـار پـه تـار دے
لېونتوبـــه لـــږ ګريـــوان تـــه نظـــر اوکـــړه

چـې د بـل عـيبونـه شمارې پـه محفـل کښـې
د هغـــې نـــه وړانـــدې ځـــان تـــه نظـــر اوکـــړه

○

چې مې کړې ستا د حسن شاعري ده
ما بائيللې د ژوند هره جواري ده

لیونتوب په محبت کښې نور څۀ نۀ دي
د احساس او د جذبو ناقراري ده

مونږه کړې د حالاتو په لمبو کښې
ښۀ په نره ښۀ په نره دلداري ده

چې د هر رنګه علاج سره زياتيږي
مينه داسې لاعلاجه بيماري ده

چې مې يو ساعت د زړۀ له کوره نۀ ځي
ستا د غم سره مې څومره ښۀ ياري ده

لا تـــر اوســـه ئـــې کتلـــي راتـــه نـــۀ دي
کـــه مـــې کـــړي منتونـــه کـــه زاري ده

که هـــر خـــومره خـــود ســـري کـــوي لایقـــه
بیـــا هـــم غـــږ کـــولے نـــۀ شـــم ,, ناچـــاري ،، ده

## شعرونه

لکـــــــه ســـــــیوري راپســـــــې دي
یـــــو بیلتـــــون دے بـــــل مـــــرګے دے

دا چـــې تـــا لـــه مانـــه غـــواړي
لیـــــــونے زړۀ لیـــــــونے دے

لایـــــق مینـــــه پـــــه زور غـــــواړي
څـــۀ کـــم عقـــل شـــان ســـړے دے

○

تـهٔ کـه هـر څـو زمـا نـهٔ شـوې د بـل چـا شـوې
خـو زمـا پـه خولـه چـې راغلـې نـو دعـا شـوې

آئینـــې درتـــه څـــهٔ اووئـــے حیرانیـــږم
تهٔ چې داسې په خندا کښې په خندا شوې

ښـهٔ پوهیږمـه ایلـه بـه د خپـل ځـان شـم
یـه ارمانـه کـه زمـا پـه ژونـد زمـا شـوې

تـهٔ د مینـې لـه اعجـازه څـهٔ خبـر ئـې
ښـهٔ اشـنا شـوې چـې زمـا سـره اشـنا شـوې

راتـه اووایـه چـې څنګـه بـه دې سـتایم
لېوتتوبـه چـې زمـا پـه تـن کښـې سـاه شـوې

د مکــان او لامکــان فــرق بــه ورک کــړي
چرتــه پوهــه کــه پــه راز د ,, الاالله ،، شــوي

د تکمیــــل حــــد تــــه بــــه اورســــم لایقــــه
د ځـوانۍ خوبـه ربښـتیا کـه پـه ربښـتیا شـوي

# قسم

هغــه چــې تــا راتــه خنــدلي وو پــه مینــه مینــه
هاغــه لمحــې مــې لاد ذهــن نــه وتلــي نــۀ دي

قسم په خدائے قسم په خدائے قسم په خدائے جانانه
مــا بــې لــه تانــه د چــا سـترګو تــه کتلــي نــۀ دي

○

زړۀ مــې درد کــوي خــوږېږي چــې دا ولــې
ســاه مــې لنــډه لنــډه کیــږي چــې دا ولــې

شــپه او ورځــې کــه تــوبې تــوبې اوباســم
زړۀ مــې تانــه نــۀ صــبرېږي چــې دا ولــې

چــې دې کلــه ذکــر راشــي پــه محفــل کښــې
دواړه شــونډې مــې اوچیــږي چــې دا ولــې

چې سحر کښې کارغۀ پاس په بلۍ کیني
ګســه ســترګه مــې رپیــږي چــې دا ولــې

زۀ چې ستا نامه محفل کښې کله واخلم
هــر څــوک مــا پــورې خنــدېږي چــې دا ولــې

چې ئې شومره هېرومه نۀ پوهېږم
دومره ډېره مې يادېږي چې دا ولې

چې يوازې له يارانو شم لايقه
ګمانونه مې زياتېږي چې دا ولې

## غوښتنې

د ژوند رباب څکه په زمکه پروت دے
تارونه هاغه دي نغمې نوې دي

د وخت خدايانو خپل انداز بدل کړي
حالات بدل دي تقاضې نوې دي

چې داؤ کړې مو ځواني ده
ځکه ساه مو الواني ده

د ,, بې سرو ،، په دې ښار کښې
د ,, سرونو ،، ارزاني ده

هره ساه مې ستا د سترګو
ارماني وه ارماني ده

څه دے جبر د وختونو
څه مو برخه تاواني ده

په رخسار دې کوي لوبې
څومره شوخه حيراني ده

چـــې مـــو غـــم ســـره شـــریک دے
د ,, پښـــــــتو ،، مهربـــــــــاني ده

,, تـــور ګلونـــه ،، بـــه زرغـــون کـــړي
دغـــــــه زمکـــــــه ,, بـــــــاراني ،، ده

پـــــه هـــــر لـــــور خوشـــبو خـــوره ده
بیـــــا ئـــــې ویســـــتې ســـــتوماني ده

,, پښـــــتو ،، نـــــۀ منـــــي لایقـــــه
عجیبـــــــــــه مســـــــــــلماني ده

## شعر

ســـتا د ښائســـت غـــرور بـــه ډیـــر وي مـــنم
خـــو زۀ پښـــتون یـــم ســـر کـــوزي نـــۀ کـــووم

○

غمونه ستا مې وژني
خپله وفا مې وژني

د کلي خلقه راشئ
په څۀ ګناه مې وژني

ساه اخستلې نۀ شم
په هره ساه مې وژني

څومره مکار دے قاتل
اوخاندي بیا مې وژني

ګیله له چا نه اوکړم
چې خپل اشنا مې وژني

چــــــې ښــــــکته ښــــــکته ګــــوري
دغـــــــه ادا مــــــــې وژنــــــــې

پــــــه یــــــوه پاکــــــه مینــــــه
ټولـــــــه دنیـــــا مـــــې وژنـــــې

ســـــر بـــــه تـــــرې منـــــع نـــــهٔ کـــــړم
کـــــه پـــــه خنـــــدا مـــــې وژنـــــې

چـــــې د رقیـــــب ســـــره ځـــــې
لایقـــــــه دا مــــــــې وژنــــــــې

## شعر

ســـتا د ښائســـت لمبـــې دې کمـــې نـــهٔ شـــې
مـــا لـــه زمـــا قـــرار پـــه بیرتـــه راکـــه

لکه موسم بدلیږي
داسې صنم بدلیږي

په چل ئې نۀ پوهیږم
په هر قدم بدلیږي

خوارۀ خوارۀ راګوره
په دې مې غم بدلیږي

زړۀ مې توبې نۀ مني
نۀ په قسم بدلیږي

چې تۀ بدله نۀ شې
خیر که عالم بدلیږي

چــې جــدائي ختمـــه شـــي
فکرونـــه ســـم بـــدلیږي

چــې وي ,, اصـــیل ،، لایقـــه
هغـــه ډیـــر کـــم بـــدلیږي

# ساه

تـــهٔ چـــې راوګـــورې پـــه مینـــه مینـــه
لېـــونے زړهٔ زمـــا دمـــه دمـــه شـــي
د خـــوږو ســـترګو دې قربـــان شـــمه زهٔ
دې کښـــې مـــې ســـترې ساه دمـه دمـه شـي

○

کـــهٔ کــــدو دے کـــهٔ نمېـــــر دے
دلتـــــه هـــــر یـــــو ســـړے ســـېر دے

زهٔ دې نشـــــــــــــــم هیــــــــــرولے
تـــهٔ مـــــې مـــــهٔ یــــادوه خېــــر دے

دومـــــره ځلـــــې دې دهوکــــــه کـــړم
خطـــــا شــــوے رانــــــه شـــمېر دے

چـــې بـــــه مینـــه ,,لېونتـــوب،، وو
هاغـــــــه دور اشـــــــنا تېـــــــر دے

ســـــتا د زلفـــــو پـــــه ول ول کښـــــې
لېـــــونے فکــــــر مـــــــې ګېـــــر دے

هر يو ظلم راته ياد دے
که د زبر که د زېر دے

دغه ستا هاغه لايق دے
ستا نه ولې داسې هېر دے

# تقاضې

د وخت په اور کښې سوزېدلې فکر
دخيال په دشت کښې لوغړېدلے فکر
د درد په شوندو لوبېدلے فکر
د بې عنوانه سوال جواب غواړي
رانه جذبې د انقلاب غواړي

○

چې کله دا او کله دا غواړي
مینه د مینې انتها غواړي

زما یاران زما نه نهٔ دي خبر
رانه مستي غواړي خندا غواړي

وي تهوله شپه مینه سلګو نیولې
یوه نیمګړې شان دعا غواړي

زما جنون څهٔ عجیبه غونډې دے
چې په دې دور کښې وفا غواړي

د غلامۍ له جغه نشي وتے
څوک چې حقونه په ,, رضا ،، غواړي

وایه زړګي ته څۀ جواب ورکړمه
چې نۀ صبرېږي رانه تا غواړي

زما بې صبره لېونتوب لایقه
هاغه زاړۀ وختونه بیا غواړي

## خامخا

چې زۀ دې هر وخت یادومه ګلې
دا مې باور دے تۀ به ما یادوې
چې په نکریزو سرۀ کوې لاسونه
خپل لېونے به خامخا یادوې

که د انکار نه دې اقرار خوښ دے
نو د اقرار نه دې انکار خوښ دے

د محبت په هرې ساه مې قسم
ما ته له خپله ځان یار خوښ دے

چې لېونتوب معراج ته اورسوي
څومره د مینې کاروبار خوښ دے

په نۀ راتلو دې ګیله من نۀ یمه
ستا د راتلو نه انتظار خوښ دے

چې په محفل کښې زلزلې راولي
د یا قربان نه یکه زار خوښ دے

چې په جذبو باندې نشې خوروي
د لېونو سترګو خمار خوږ دے

چې د منصور عظمت لري لايقه
په عاشقۍ کښې سر د ,, دار ،، خوږ دے

# انجام

ما وے زړۀ به کړمه صبر خو اونۀ شوه
بې صبري مې وار تر واره سېوا کيږي
د انجام نه بې پروا يمه لايقه
که هر څو مې په زړګي لمبې بليږي

○

بې لــه مــا مــرې بــې لتــا مــرم
پــه رښــتیا مــرې پــه رښــتیا مــرم

ســـره پوهـــه یُـــو زړګیـــه
پــه خنــدا مــرې پــه خنــدا مــرم

بیمـــاري مـــو عجیبـــه ده
پـــه دوا مـــرې پـــه دوا مـــرم

غمـــازان چـــې جرګـــه کیـــږي
خامخـــا مـــرې خامخـــا مـــرم

د حـــالاتو پـــه لمبـــو کښـــې
تـــهٔ اشـــنا مـــرې زهٔ اشـــنا مـــرم

لا ژوندي نهٔ يُو چې مړه شو
ځکه بيا مري ځکه بيا مرم

تل په چپه خوله لايقه
هر صبا مري هر صبا مرم

# فطرت

بل چې دي ښائست کړلو
اور په رخسارونو کښې
جوړ مې ليونتوب کړلو
کور په رخسارونو کښې

○

ښهٔ درته یادېږم دروغ مهٔ وایه
زهٔ په تا پوهېږم دروغ مهٔ وایه

نوم مې اخستې نهٔ شې مجبوره ئې
هر څهٔ نهٔ خبرېږم دروغ مهٔ وایه

نه توبه الله مهٔ که مولا مهٔ که
تانه به صبرېږم دروغ مهٔ وایه

چا درته وئیلي دا کیدے نهٔ شي
څنګ به په شا کېږم دروغ مهٔ وایه

اوښکې چې دې سترګو کښې ګلونه شي
زهٔ پکښې غړېږم دروغ مهٔ وایه

تولــه تولــه شــپه چــې ویښــه ناســته ئــې
ســـتا پـــه زړۀ وریـــږم دروغ مـــۀ وایـــه

هـــر څـــو کـــه انکـــار کـــوې لایقـــه خـــو
ســـتا نـــه نـــۀ هیریـــږم دروغ مـــۀ وایـــه

# خالونه

هســـې نـــه چـــې مـــا د وخـــت بادونـــه یوســـي
د خپـل حســن پـه رنګونـو کښـې مـې ځـائے کـه
نظرونـــه د شـــین ســـترګو راپســـې دي
ما راتول که په ,, خالونو ،، کښې مې ځائے که

○

چې صداقت د جذبو پاتې نۀ دے
ځکه وقار د رشتو پاتې نۀ دے

چې مې ځواني په انتظار تیره کړه
اوس دې څۀ خوند د راتلو پاتې نۀ دے

د خوږو سترګو په خوږه مینه کښې
کوم یو مئین په سلګو پاتې نۀ دے

چې د ادم د رباب ترنګ نۀ راځي
د زنې خال د دُرخو پاتې نۀ دے

شوه ځان ځاني دومره په کور کلي کښې
چې هډو خونه د جرګو پاتې نۀ دے

چې په پښتو به زاريدل لايقه
اوس هاغه تنګ د ځلمو پاتې نۀ دے

## ګمان

که تۀ خفه شوې ناقراره مينې
په ما به اور شي جهانونه واړه
ما ستا په نوم باندې اشنا اوليکل
خپل سحرونه ماښامونه واړه

○

چې د حاله مې خبرېږې زۀ به نۀ یم
ښۀ پوهیږم چې پوهیږې زۀ به نۀ یم

مازیګر چې د ګودر غاړې ته راشې
ښه نیولې به ودریږې زۀ به نۀ یم

جفاګانې چې دې خپلې رایادیږي
پته پته به ژړیږې زۀ به نۀ یم

کله کله چې زما فکر دې یوسي
تۀ به ډیره خفه کیږې زۀ به نۀ یم

چې غرور دې د ځوانۍ په کمیدو شي
لکه پاڼه به زیړیږم زۀ به نۀ یم

چې مې ذکر په محفل کښې کله راشي
ته به ځان سره ګونګړېږې زه به نه یم

ستا لایق یم نن زما پوښتنه او کړه
بیا به لې په لې ګرزېږې زه به نه یم

# حیا

درته چا وئې چې وړه ئې
وړه نه ئې ښه پوهېږې
کله ته ول لمبه لمبه کړې
چې د بام په سر اودرېږې

○

چې حادثو یوازې پاتې کړمه
خپلو یاردو یوازې پاتې کړمه

ما چې په چا باندې نازونه کول
خدائیګو هغو یوازې پاتې کړمه

یوه قیصه نهٔ ده چې هیره ئې کړم
ډېرو قیصو یوازې پاتې کړمه

ځکه په چا باور کولې نهٔ شم
ډېرو وعدو یوازې پاتې کړمه

یوازې نهٔ وومه زما لیونې
ستا راکتو یوازې پاتې کړمه

د محبت په جواری کښې همېش
خپلې پښتو یوازې پاتې کړمه

د بام په سر د چا خندا لایقه
زۀ په سلګو یوازې پاتې کړمه

## خوندونه

بې لتا نه د ژوندون خوندونه نشته
د ماښام د صباؤن خوندونه نشته
څۀ تپوس کوې چې څۀ به درته وایم
بس د نن او د پرون خوندونه نشته

○

چــې د ذات پــه آئینــو کښــې بنــد یوان یُــو
ځکــــه تهــــول د غلامــــانو غلامــــا ن یُــــو

لا تـــر اوســـه مـــو منـــزل پـــه ګوتـــه نکـــړو
خبــر نــهٔ یُــو چــې پــه کومــه لاړ روان یُــو

پــه ګــرداب د نفرتونــو کښــې راګیــر یُــو
تــور داغونــه پــه تنــدي د خپــل ارمــان یُــو

د پښــتو د ســر ســودا کــوو پــه خپلــه
مــونږ د وخــت هاغــه بدبختــه دلالان یُــو

د ,, بــل ،، جبــر تــه پــه نــره ګوتــه نیســو
خو په خپل کور کښې پخپله شرمخان یُو

څـــهٔ بـــه فکـــر د بـــدلون اوکـــړو ملګـــرو
نـــا خبـــره د خپـــل ځـــان او د جهـــان يُـــو

لـــه ,, يـــردو ،، نـــه ګيلـــې هســـې کـــړو لايقـــه
مـــونږ د خپـــل اولـــس پخپلـــه قـــاتلان يُـــو

# شعر

تـش پـه خولـه بانـدې پښـتو وئيـل اسـان دي
خو پښـتو کښـې بـه ,, پښـتئ ،، ماتـول غـواړي

○

چې زړۀ راخوارۀ شي ستا لمبه یادونه
لامې اور په سینه بل کړي لاسیوا مې کړي غمونه

ستا د اوښکو ډکې سترګې زما کله هیرېدے شي
که هر څو توبې اوباسم که هر څو خورم قسمونه

زۀ د وخت بادونو باد کړم تۀ لما نه خبر نشوې
ټوله شپه یوازې ناست یم ښکلووم دې تصویرونه

تخیل مې لرې لاړ شي تصور مې لرې بوځي
ما نه بیا لېونتوب غواړي بیا د خلقو پېغورونه

ښۀ پوهېږې چې څۀ وائې ښۀ پوهېږم چې څۀ وائې
ستا نشه ملالې سترګې لمبه شوي رخسارونه

ما د ژوند په ستړو لاړ داسې مۀ پرېږده یوازې
لامې ډېر دي په سینه کښې ناتمامه حسرتونه

د تعویذ غوندې په غاړه به دې هر وخت ګرځوم چې
ائے لایقه وادې نخلې د ,, شین سترګو ،، نظرونه

## ټپه

چې زما په شان سپین سرې شوه زړه شوه
خوږه مینه مې لا نوره هم خوږه شوه
که هر څو مې پټوله په سلګو کښې
چې د شونډو په سر راغله نو ټپه شوه

○

چــې تــهٔ مــې خپــل نشــولې خپــل جانانــه
ګیلــه بــه څــهٔ کــووم لــه بــل جانانــه

بغیــر لــه تــا چاتــه کــتلے نــهٔ شــم
زمـــا ســـاده بـــاده پاګـــل جانانـــه

لکـــه یتـــیم مـــې همېشـــه ژړلـــي
ســـتا د یـــادونو پـــه دُرشـــل جانانـــه

تانـــه بـــه هیـــر وي زمـــا نـــهٔ هیریـــږي
هغـــه مســـتي هاغـــه خنـــدل جانانـــه

چــې بــه ئــې مــونږ ســره یــو ځــائے اولیــدو
یـــاد دې شـــي خلقـــو څـــهٔ وئیـــل جانانـــه

هـــــره ادا دې د نخـــــرو ډکـــــه ده
ئـــې مینـــه مینـــه ســـل پـــه ســـل جانانـــه

چـې راتـه یـاد شـوې نـور مـې هـیڅ نـۀ وئیـل
بـــس اســـویلي بـــه مـــې کـــول جانانـــه

ښنګـــه دې هیـــر کړمـــه ربښـــتیا اووایـــه
زمـــا د ســـوي زړۀ غنـــدل جانانـــه

زۀ خـــو بـــدل نـــۀ شـــوم چـــرې لایقـــه
اووایـــه ښنګـــه شـــوې بـــدل جانانـــه

## فلسفه

زمـــا ژړا ښـــۀ بـــې ســـببه نـــۀ ده
ډیـــرې خبـــرې پـــه ســـلګو کښـــې اوشـــي
نـــاقرارې چـــې شـــي ســـیوا لایقـــه
نـــو اشـــارې پـــه اشـــارو کښـــې اوشـــي

○

کږې ژړا مې سترګې سپینې که مې وینې
تویــوم د رپســې وینــې کــه مــې وینــې

تــورې شپې چې تورې تورې راخورې شي
یــادووم دې مــاه جبینــې کــه مــې وینــې

لــه یــارانو لــرې تنهــایۍ کښې
نــوم دې اخلمــه شــیرینې کــه مــې وینــې

ښــکلووم لکــه ماشــوم پــه مینــه مینــه
ستا عکسونه ځینې ځینې که مې وینې

ستــا د یــاد ښلــي تــه ناســت سلګو نیــولې
نــۀ صــبرېږم نــازنینې کــه مــې وینــې

زۀ د مـرګ پـه تبـه پـروت يـم نـۀ رغيـږم
هلـه راشـه ,, زمـا مينـې ،، کـه مې وينـې

دا چـې هـر خـوا سـر ببـر لېـونے ګـرځم
سـتا لايـق يمـه حسـينې کـه مـې وينـې

# سوال

چـې ئـې هـر وخـت سـلګو کښـې غـوارم
هاغـــه ســـوال او دعـــا تـــۀ ئـــې
چـــې مـــې فکـــر ســـندريز کـــړي
هاغـــه شـــوخه ښـــکلا تـــۀ ئـــې

○

بې کیفه بې مزې ده پریشانه زندګي
تیرېږي به لا ځنګه بې له تانه زندګي

اعتبار ځکه په یو بل باندې اوس کولے نشو
شکونو مو اشنا کړه بد ګمانه زندګي

تا یو ځلې پوښتنه د سلګو زما اونکړه
ما تیره په ازغو کړه سرګردانه زندګي

ګیله د رقیبانو غمازانو ځنګه اوکړم
یارانو راته ګرانه کړه اسانه زندګي

د چا د حسرتونو ارمانونو پروا نکړي
بس ځي په خپله مخه ده روانه زندګي

تپوس مۀ کوه ما نه درته هیڅ وئیلے نشم
لمبې دي سرۀ اورونه دي جانانه زندګي

په مخ ئې چې رنګونه د حیا لمبه لمبه شو
لایقه مونږ تري زار کړله نادانه زندګي

## شعور

مذهبونه تول د ,, مینې ،، پلویان دي
خو شعور د عقیدت ورله پکار دے
فکر یو دے خو انداز بدل بدل دے
سوادیکا[1] که سلام[2] که نمسکار[3] دے

[1] د بُدایانو سلام
[2] د مسلمانانو سلام
[3] د هندوانو سلام

○

هیــر دې نشــي خپــل لوظونــه یــاد لــره
ســـتړي ســـترګي ماښـــامونه یـــاد لـــره

چې زمونږ د مینې ,,اور،، لري سینو کښې
د ,,کـــوز کلـــي،، چنارونـــه یـــاد لـــره

لاتــر اوســه چــې نیمګــړي نیمــه خــوا دي
نـــاقراره ارمانونـــــه یـــــاد لــــره

کــه مــا هیــر کــړې نــو زمــا څــه پــروا نشــته
خـــو د کلـــي پیغورونـــه یـــاد لـــره

تـــا چـــې ماتـــه وو وئيلـــي زۀ بـــه راشـــم
هاغـــــه کـــــړي قســـــمونه يـــــاد لـــــره

چـــې ئـــې ســـتا پـــه نامـــه کـــړي دي جانانـــه
د لايـــــق ,, ســـــوي بيتونـــــه ،، يـــــاد لـــــره

## نظر

ســـــاده ســـــاده خـــــوارۀ خـــــوارۀ راکتـــــل
ســـــکون لمانـــــه وړي لمبـــــه راکتـــــل
لادې ښائســـت پـــه ارمـــان لـــوبې کـــوي
نـــور دې ســـپوا شـــه دا غصـــه راکتـــل

○

چــې دې وینمــه پــه زړهٔ کښــې مــې خنجــر ځــي
چــې دې نــهٔ ویــنم لــه ســترګو مــې نظــر ځــي

چـــې زمـــا پـــه مـــخ د اوښـــکو لارې وینـــې
ریبـــار ښـــکته ښـــکته وګـــورې اوتـــر ځـــي

پـــه ســـلګو شـــم ګودرونـــه مـــې رایـــاد شـــي
مـــازیګر چـــې پیغلـــې جونـــه پـــه ,,چکـــر،، ځـــي

هـــر یـــو جبـــر د نـــړۍ ورتـــه حیـــران شـــي
چې ,, خپل کور ،، ته د ,, خپل کور ،، نه مسافر ځي

پـــه میونـــد کښـــې پښـــتانهٔ روحونـــه ژاړي
چـــې د مـــخ نـــه د ملالـــې ,, ســـپین څـــادر ،، ځـــي

کلـــه کلـــه مـــوده پـــس چـــې خوالـــه راشـــي
پـــتې د ځـــان ســـره څـــۀ اووائـــي اکثـــر ځـــي

چـــې رایـــاده نیمـــه شـــپه کښـــې شـــي لایقـــه
رنـــړې اوښـــکې لـــه چشـــمانو مـــې تـــر تـــر ځـــي

## قدم

نـور مـې هـیڅ پکـار نـۀ دي د زړۀ سـره
دا سـتا غـم راتـه لـه هـر څـۀ مقـدم دے
د ژونـدون د هـرې سـاه مقصـود مـې تـۀ ئـې
هر قـدم مې سـتا پـه لـور دے ځکـه سم دے

○

توله شپه مې یادولې چې تهٔ نهٔ وې
زړهٔ مې وینې تویولې چې تهٔ نهٔ وې

د خپل ځان سره لګیا ووم غلې غلې
څهٔ خبرې مې کولې چې تهٔ نهٔ وې

په لاسونو کښې مې ستا د مینې کرښې
جوړولې ورانولې چې تهٔ نهٔ وې

په خپل سر مې د سحر نه تر ماښامه
شګې خاورې بادولې چې تهٔ نهٔ وې

اوچې شوندې وارخطا فکرونو وړې
تولې لارې مې څارلې چې تهٔ نهٔ وې

ما دې خپل ماشوم زړګي ته په سلګو کښېي
تسلیانې ورکولې چې ته نه وې

چې رایاد به تیر وختونه شو لایقه
ما خیرې ځان ته کولې چې ته نه وې

# اسویلے

ته څه خبر ئې چې راتلمه کور ته
بېګاه مې تېوله شپه په لاره ژړل
دا ئې زما او ستا قیصې کولې
د کلي خلقو چې بې واره ژړل

○

نــهٔ پــوهيږم زمــا څــهٔ ئــې تانــه زار شــم
لکــه ســېورے راســره ئــې تانــه زار شــم

جهــان تــول راتــه خفــه خفــه ښــکارېږي
کلــه کلــه چــې خفــه ئــې تانــه زار شــم

لادې حســن ســره لمبــه شــي رانــه تــاؤ شــي
د زړهٔ ســره چــې غصــه ئــې تانــه زار شــم

تپــوس مــهٔ کــوه چــې څــهٔ پــه مــا تيرېــږي
زمــا مينــې چــې تــهٔ نــهٔ ئــې تانــه زار شــم

چــې زمــا لېــونے فکــر دلاســه کــړي
هغــه تــهٔ وے هغــه تــهٔ ئــې تانــه زار شــم

وايه وايه تاله کومه نامه درکړم
تهٔ زما سترګې لېمه ئې تانه زار شم

چې په شونډو مې بيا بيا راځې لايقه
تهٔ د ژوند هاغه تپه ئې تانه زار شم

# ول

ساده سړے يم ساده مينه کوم
ماله په مينه کښې چل ول نهٔ راځي
چې زهٔ دې هيره کړم زما لېونۍ
په دې مې ول نه راځي ول نهٔ راځي

○

چې د زلفو په ول ول باندې مئین یم
لیونے یم په مقتل باندې مئین یم

چې سجده د محبت پکښې معراج شي
زۀ په هسې رنګ دُرشل باندې مئین یم

دا ستا فکر دا ستا ذکر مې منزل دے
خدائے دې نۀ کړي چې په بل باندې مئین یم

هره خوا د پښتونخوا ده راته ګرانه
پېښور هم په کابل باندې مئین یم

چې کلونه پس هم وینه ساتي ګرمه
د پښتون په هر ,, بدل ،، باندې مئین یم

چې دا ستا د محبت مرام ته رسي
ستړے نۀ یم په مزل باندې مئین یم

نور اصناف د شاعرۍ شته خو لایقه
زۀ مئین یم په غزل باندې مئین یم

## نامه

چې وې ناسته د همزولو په محفل کښې
ما دې سترګو ته کتل تۀ خبر نشوې
ستا نامه مې اخستله زما مینې
تر سحره مې ژړل تۀ خبر نشوې

○

اوښــــکه یــــم لیمـــو ښــــۀ پېژنــــدلې یــــم
ګـــــل یمــــه ازغــــو ښــــۀ پېژنــــدلې یــــم

لـــــوبې چـــې زمـــا پـــه هـــر ارمـــان کـــوي
زۀ د چــــا وعــــدو ښــــۀ پېژنــــدلې یــــم

ولـــې مـــې پـــه کـــاڼو چـــې مـــا ووینـــې
ســــتا د چـــم وړو ښــــۀ پېژنــــدلې یــــم

چـــل ئـــې د خنـــدا رانـــه هیـــر کـــړے دے
خـــدائیګو حـــادثو ښــــۀ پېژنــــدلې یــــم

اوګـــوري چـــې ماتـــه چغـــې جـــوړې کـــړي
ښـــکاري لېونـــو ښــــۀ پېژنــــدلې یــــم

نـهٔ مـې پریـږدي خـوب تـه چـې یـوه لحظـه
زهٔ دې شـــوګیرو ښـــهٔ پېژنـــدلے یـــم

مینـــه کښـــې لایقـــه پـــه قـــدم قـــدم
ســـوزمه لمبـــو ښـــهٔ پېژنـــدلے یـــم

## لاس نیوه

اوس بـه پـه خـوب کښـې هـم چیچـي غـاښـونه
مـــا ورتـــه بیـــا هـاغـــه قیصـــه کـــړې ده
زهٔ بـــه د دار پـــه ســـر هـــم تـــا یـــادوم
مـــا د منصـــور نـــه ,,لاس نیـــوه،، کـــړې ده

○

کلـــي تـــه چـــې اوس رقيبـــان نـــۀ راځـــي
داســـې معلـــومېږي جانـــان نـــۀ راځـــي

ســـتا د بـــې رخـــۍ لمبـــو ســـتي کړمـــه
نـــور پـــه ځـــۀ خبـــره خفګـــان نـــۀ راځـــي

زار مـــې تـــرې ځـــواني پـــه مينـــه مينـــه کـــړه
نـــور رالـــه ځـــۀ چـــل د تـــاوان نـــۀ راځـــي

بيـــا د حســـرتونو وريـــځ ,, ســـره ،، شـــوله
بيـــا د يـــدنونو بـــاران نـــۀ راځـــي

اوګـــوري چـــې ماتـــه نـــو مـــخ واړوي
ځنګـــه بـــه مـــې شـــک او ګمـــان نـــۀ راځـــي

نــه لــرم ځــواني نــه مــال و زر لــرم
ځکـه مې اوس خواله ,, ياران ،، نه راځي

ډيــر کــه پــه ســلګو لايقــه ژاړمــه
بيــا هاغــه تيــر شــوے دوران نــه راځــي

# لټون

چې پــه مينــه کښــې د ســر و مالــه تيــر وو
نشــته هاغــه ليــوني عاشــقان نشــته
تش په خوله باندې هر څوک مئين مئين دے
د اخــلاص او بــې غرضــۍ مئينــان نشــته

○

عمر تیر شو په ژړلو
د اشنا په یادلو

وایه څهٔ دې پاتې کړي
نور د سترګو لګولو

تهوله شپه مې شوګیره کړه
یو تصویر ته په کتلو

زما روح وو ناقراره
چې منصور په دار ختلو

له پردو مې ګیله نشي
ستړے یم له خپلو

هم هغه مې دښمني کړي
ګرځول چې مې په ولو

لایق څومره لېوني دي
چې وفا غواړي له ښکلو

# ګنګوسې

ګنګوسې دي د سپرلو خبرې کېږي
د پښتون د یو کېدو خبرې کېږي
په تورتم د مایوسۍ او محرومۍ کښې
د سحر د راختو خبرې کېږي
موده پس بیا په زوره ورانو حجرو کښې
د ,,وحدت،، او د جرګو خبرې کېږي

○

بېګـــاه مـــې لېـــونۍ ډېـــره پـــه زړۀ راورېـــده
لمبـــه لکـــه د اور مـــې د بدنـــه تاوېـــده

کتــل ئــې ښــکته ښــکته هــره ســاه ئــې نــا قراره
وئــيلے ئــې څــۀ نشــو لــه حيــا نــه شــرمېده

په مخ ئې چې رنګونه تلل راتلل د مجبورۍ نه
زمــا پــه احســاســاتو پوهېــدم چــې پوهېــده

راتلله مـې لېمـو تـه لکـه اوښـکه غلـې غلـې
مـــا ډېـــره پټولـــه ولـــې کلـــه پټېـــده

که زۀ د هجر اور کښې سوزېدمه سر تر پايه
دا هم په سرو لمبو کښې د حالاتو سوزېده

خوږل مې قسمونه سوګندونه خو قسم دے
لايقه که يوه لحظه لمانه هېرېده

# يارانه

تۀ چې زلفې په رخسار دانه وانه کړې
„ پېغلتوبه ، ، لېونۍ به زمانه کړې
خامخا به بلا سترګې درپسې وي
چې د ښکلو سترګو يارانه کړې

○

مينه دې لمبې دي شپه او ورځې پرې سوزېږمه
څومره قسمونه نۀ شوم صبر نۀ صبرېږمه

ماته چې راياده شې زۀ سر په زنګون کېدمه
څۀ پتا تيرېږي وايه زۀ چې درياديږمه

دې دنيا مئين کله خندلو ته پرېښودي دي
ګلې ښۀ خبر ئې ښۀ پوهيږې ښۀ پوهيږمه

زار دې شم له سترګو تۀ زما نه هيرېدے نشې
وايه کنه وايه چې لتا ولې هيرېږمه

داغ چې مې په زړۀ د محبت کله خوړلے دے
ډيرې مودې وشوې مودې کيږي نۀ رغيږمه

ستا په انتظار کښې مې ځواني په تیریدو شوله
بیـا هـم شـاته ګـورم پـه قـدم قـدم اودریږمـه

کلـه چـې لایقـه تصـیریرونه سـتا راواخلمـه
سـوچ مـې لـرې یوسـي بـس د ځـان سره ژړیږمـه

## شور

نـه پوهیږمـه چـې ولـې وار خطـا شـم
سـتا یادونـه چـې راځـي د زړګـي کـور تـه
خپـل ارمـان تـه پـه سـلګو سـلګو ژړیـږم
چې مې خیال لاړ شي دا ستا د بنګړو شور ته

○

چې دې اووئیل ځۀ ماته هغه بس دي
یو په دوه نۀ دي جانانه یو په لس دي

یو د مینې کاروبار تر همه ښۀ دے
نورې چارې د دنیا وارہ عبث دي

د ژوندون د تیریدو سندرې وائي
ساندې ساندې آوازونه د جرس دي

د ښائست نه د ,,غرض،، خوارۀ راتول کړي
څومره سپینې سپینې سترګې د مګس دي

په دې خره پښتونخوا به ئې ورنکړم
ښکلاګانې د ,,المان،، که د ,,پیرس،، دي

ستا د برندو برندو سترګو عادتونه
ماته غرونه دي جانانه تاته خس دي

په خپل ځاني شئ پکار نه دي لایقه
دا زما واړه فکرونه د اولس دي

# خوب

هر یو یار تر خپل غرض پورې یاري کړي
مینه نشته وفا نشته هسې خوب دے
په هر لوري فریبونه دي لایقه
اشنا شته خو,,اشنا ،، نشته هسې خوب دے

○

پوهېږم زۀ دربانـدې ګـران يـم خـو وئـيلې نشــې
اقــرار د مينــې کـول غـواړې خـو کـولې نۀ شـې

خدائے خبر څۀ فکر دې يوسي چې راګورې ماتـه
څـۀ دې پـه زړۀ وي خـو پښـتو دې مـاتولې نشـې

خــوره قســمونه پــروا نشــته لاتــوبې اوباســه
زمــا اشــنا زمــا اشــنا مــا هيــرولې نشـــې

چې زۀ یم وینې خوبونه نۀ راځي سوچونه کوم
تۀ به هم چرې تر صبا اودۀ کېدلے نشې

لایقه زړۀ چې دې راډک شي نو ربښتیا اووایه
ولې په چغو بې اختیاره ژړېدلے نشې

## شعرونه

ستا ښائست ته به لوګے کړم
ښائستونه زما مینې
ما غوښتلي همېشه دي
ستا سوالونه زما مینې
ستا ځوانۍ ته صدقه شه
بهارونه زما مینې
ستا حیا ته کله رسي
جهانونه زما مینې

## دغه برخه

# څانګې څانګې

### چې د ناقراره جذبو بدل بدل اظهار دے

راخــوارۀ مــې د احســاس پــه دنيــاګۍ دي
ســتا خيالونــه ســتا يادونــه څــانګې څــانګې

# ارمان

یادګیرنه

(دا د کال **۱۹۷۵** ء خبره ده چې کله ما د خپل کلي ,,مدین،، په هائي سکول کښې سبق وئیلو . ما ایله ایله شاعري شروع کړې وه . د لسم امتحان د شروع کېدو نه وړاندې مونږ ته الوداعي پارټي راکړے شوه . دغه ساعتونه دغه لمحې زما دپاره د ډېر ارزښت وې . ځکه نو ما په دغه موقع یه نظم اولیکلو . زما د سبق ملګري ,, عبدالباسط ،، د ټولو استاذانو په وړاندې دا نظم په دومره دردیدلي آواز واؤرولو . چې د هر چا په سترګو کښې ئې اوښکې راوستې . پوره دیرش کاله پس چې زهٔ دغه شعرونه لولم . نو په هر لفظ کښې راته خپله کچه ځواني ښکاري . کومه ویره چې ما په کال **۱۹۷۵** ء کښې محسوس کړې وه . وختونو هغه په یقین کښې بدله کړې ده . نن د ,, مدین ،، سکول شته . خو هاغه ځوک ورکښې نشته چې ماته ئې د ژوند لارې ښودلې . دغه نظم د وختونو ددغه یادونو د خوندي کولو په غرض ددې کتاب پاڼو ته سپارم . )

نن شروع کړے مې د خپل سټاف دا بيان دے
ډېر افسوس ارمان دے ټول به جدا شي

اول حقدار مې ,, هيډ ماسټر ،، دے
سکول پرې زمونږه منور دے
بل مو استاد محمد انور[1] دے
د ګلاب ګل استاد زمونږه ميا صيب جان[2] دے
ډېر افسوس ارمان دے ټول به جدا شي

خيال د حنيف استاد[3] پکار دے
په استادانو کښې سردار دے
دے د اردو د مضمون پلار دے
بل مو دا سکول په منجور استاد[4] ودان دے
ډېر افسوس ارمان دے ټول به جدا شي

---

[1] ښاغلے محمد انور ـ د مدين د کالاګرام کلي اوسيدونکے.
[2] ښاغلے ميا صيب جان ـ چې نن پرون د پبلک سروس کميشن ممبر دے.
[3] ښاغلے محمد حنيف
د دامانے کلي (مدين) اوسيدونکے چې نوکري ئې سرته رسولې ده.
[4] ښاغلے منجور صيب
د ګهړۍ کلي مدين اوسيدونکے چې اوس ئې مونږ په دعا کښې يادؤ. د رشتې په تړون زما ورارۀ کيدو.

ټيچـــــر د ډرائنـــــګ ابـــــن امـــــين[1] دے
د الجبــــــرې بـــــــازدا[2] ذهــــــين دے
ميـــــا كـــــريم بخـــش اســــتاد[3] فهـــيم دے
اميـــــرزاده[4] نـــــه هيـــــروم دا مـــــې اعـــــلان دے
ډيـــر افســـوس ارمـــان دے تـــول بـــه جـــدا شـــي

اســــــتاد صـــــــاحب خيرالبشـــــــر[5] دے
د خپـــــل مضـــــمون نـــــه ښـــــۀ خبـــــر دے
د شـــــاګردانو د زړۀ ســـــــــــــــر دے

---

[1] ښاغلے ابن امين
د ډرائينګ استاد ثوک چې د مدين كوز كلي اوسېدونكے دے.
[2] ښاغلے عقل رحمان (بازدا) مرحوم
د قنديل كلي اوسيدونكے وو او د رشتې په تړون زما ورارۀ كيدو.
[3] ښاغلے ميا كريم بخش
د هريانے كلي مدين اوسيدونكے چې ډير كاله پخوا ئې ستركې د همېشه دپاره پټې كړې دي. په ګور ئې نُور شه.
[4] ښاغلے امير زاده صيب
د هريانے كلي مدين اوسيدونكے وو چې موجوده سيلاب ئې د كور نخښې هم ورانې كړې دي.
[5] ښاغلے خيرالبشر صيب
د مدين ګهړۍ كلي اوسيدونكے چې لااوس هم د علم رڼاګانې خورئ.

بـل د اسـتـاد بخرالخـراج[1] پـه مـا احسـان دے
ډېـر افسـوس ارمـان دے تـول بـه جـدا شـي

د سـيد عمـر صـيب[2] نـه قربـان شـم
امـداد مـې کـړي چـې څـهٔ کښـې وران شـم
چـې شـي جـدا بيـا بـه ارمـان کـړم
ملاتـړ کـوونکے مـې اسـتـاد ايـم علـي جـان[3] دے
ډېـر افسـوس ارمـان دے تـول بـه جـدا شـي

اسـتـاد صـاحب محمـد اقبـال[4]
پـه هـر څـهٔ پويـه باکمـال

---

[1] ښاغلے بخرالخراج صيب
د مدين چيل روډ اوسيدونکے چې خپله نوکري ئې سرته رسولې ده. د رشتې په تړون زما د ترۀ زوئے دے.
[2] ښاغلے سيد عمر صيب
د قنديل مدين اوسيدونکے چې نن په مونږ کښې نشته.
[3] ښاغلے محمد علي جان صيب
د مدين اوسيدونکے څوک چې د رشتې په تړون زما د ترۀ زوئے وو. د نوکرۍ د پوره کېدو سره د همېشه دپاره د ژوند د کوره ووتو. په ګور ئې نُور شه.
[4] ښاغلے محمد اقبال صيب
د تيرات کلي مدين اوسيدونکے چې لاتر اوسه د علم پلوشې خوروي.

دے افضــــل خــــان[1] د ســــیالو ســــیال
سراج الـدین استـاد[2] هم ستورے د اسمان دے
ډېـر افســوس ارمـان دے ټـول بـه جـدا شـي

عـــلاوه نـــور ډیــــر اســــتاذان دي
دا ټـــــول زمــــــونږه حقـــــداران دي
څـــۀ ښـــکلي ښـــکلي رهبـــران دي
ځکـه لایـق ئـې صـفت کـړي داسـې ګویـان دے
ډېـر افســوس ارمـان دے ټـول بـه جـدا شـي

یادګیرنه دغه نظم په ۱۳ نومبر ۱۹۷۵ء کښې ولیکلے شو

[1] ښاغلے افضل خان
دګهړۍ کلي اوسیدونکے چې د انګریزۍ ښۀ استاد دے.
[2] ښاغلے سراج الدین صیب
د کوز کلي مدین اوسیدونکے چې نن صبا په سیاسي او سماجي کارونو کښې برخه لري.
ددغه استاذانو تر څنګه ما د عبدالغفار مولوي صیب (مرحوم) مدین محترم سالار استاد (مرحوم) قندیل، محترم غني الرحمان مدین، محترم فضل محمد صیب مدین، محترم ازاد بخت مرحوم شیګل او نورو ډیرو نه هم زده کړه کړې ده. زۀ د دې ټولو ښاغلیو د عظمتونو اعتراف کوم. (لایق)

#ساندې

ورانې حجرې شوې وران د کلي ګودرونه
خدائے خبر ولې داسې اوشو
نشته میلې او نهٔ د پېغلو اتنونه
خدائے خبر ولې داسې اوشو

نهٔ ,,میخکې،، شته نهٔ ,,پېزوان،، شته
نهٔ ,,پیکړې،، نه ,,باهوګان،، شته
نهٔ د ,,چارګل،، هاغه دوران شته
نهٔ اورېدے شي د ,,پازېبو،، آوازونه
خدائے خبر ولې داسې اوشو

نهٔ هاغه ,,بام،، شته نهٔ ,,بلۍ،، شته
د جونو تپل شته نهٔ سیالۍ شته
نهٔ ,,پټ پټونې،، نهٔ ,,انګۍ،، شته

نـۀ خپـل مئـین تـه څـوک کـوي اشـارتونه
خـدائے خبـر ولـې داسـې اوشـو

ورکــــه پښــــتو ورکـــه حیــــا شــــوه
مینــــه عنقـــا ورکـــه وفـــا شــــوه
دا څــــۀ دنیـــا وه څــــۀ دنیـــا شــــوه
پــــه چغــــو ژاړم یادومـــه تیـــر وختونـــه
خـدائے خبـر ولـې داسـې اوشـو

اوس نــه محفــل شــته نــۀ یــاران شــته
نــۀ چرتــه جــان شــته نــۀ جانــان شــته
نــۀ څــوک د مینـــې صـــادقان شـــته
لایقــــه بــــل د نفرتونــــو دي اورونــــه
خـدائے خبـر ولـې داسـې اوشـو

* * *

# تصویرونه

چــې مــې کلــه تیــر وختونــه رایــادیږي
تصــویرونه مــې پــه ســترګو کښــې جــوړیږي

ســوچ مــې یوسـي ګودرونــه مــې رایـاد شـي
د ,, کــوز کلــي ،، چنارونــه مــې رایـاد شــي
مــازیګر چــې نمــر د غرونــو پنــاه کیــږي
تصــویرونه مــې پــه ســترګو کښــې جــوړیږي

زۀ چــې کلــه کلــه ګــورم آئینــه کښــې
ارمانونــه مــې ول ول شــي پــه ســینه کښــې
رڼــې اوښــکې مــې پــه مــخ بانــدې بهیــږي
تصــویرونه مــې پــه ســترګو کښــې جــوړیږي

چې کارغهٔ په بلی کینې اویریږم
پټ د ځان سره څهٔ ووایم ګونیږم
بې اختیاره مې فکرونه ولړزیږي
تصویرونه مې په سترګو کښې جوړیږي

چې غمونه مې د زړهٔ نه راچاپیر شي
باور اوکه جهانونه رانه هیر شي
ګمانونه مې زیاتیږي نهٔ کمیږي
تصویرونه مې په سترګو کښې جوړیږي

ښهٔ پوهیږم د هغې نه به زهٔ هیر یم
د ښائست د پلوشې نه به زهٔ هیر یم
خو لایقه دا زما زړهٔ نهٔ صبریږي
تصویرونه مې په سترګو کښې جوړیږي

***

# جذبې

مـــا دې د راتلـــو لارې څـــارلي دي
يـــه جانانـــه ډيـــر ډيـــر مـــې ژړلـــي دي

تـــا چـــې د راتلـــو نيتـــه راکـــړې ده
غلـــې غلـــې ځـــان لـــه ګونږيـــدلې يـــم
زړۀ تـــه مـــې راغلـــي ګمانونـــه دي
بيـــا بيـــا د کـــوتې ســـر تـــه ختلې يـــم
ســـتوري تـــر ســـحره مـــې شـــمېرلي دي
يـــه جانانـــه ډيـــر ډيـــر مـــې ژړلـــي دي

مـــا چـــې تصـــور د حســـن کـــړے دے
ستـا تصـوير مـې ذهـن تـه راغلـے دے
خـــوب مـــې تښـــتيدلے د ليمـــو نـــه دے
ځـان سـره مـې سـتا ارمـان ژړلـے دے
ګـــوره ســـترغلي مـــې پړســـيدلي دي
يـــه جانانـــه ډيـــر ډيـــر مـــې ژړلـــي دي

ما دې غرځنۍ مینه په سترګو کښې
پته د نظر غوندې ساتلې ده
خولې چې راغلې مې ورته تپه
ما پکښې دا ستا نامه ستائيلې ده
هر سړي په غور راته کتلي دي
يه جانانه ډير مې ژړلي دي

ما چې لاس دعا ته پورته کړے دے
ستا سوال مې غوښتلے د مولانه دے
زار دې شم له سترګو نه باور اوکه
ستا لايق هم ستا دے د بل چا نۀ دے
ما دې تا خوبونه تل ليدلي دي
يه جانانه ډير مې ژړلي دي

# ستا نه بغیر

پـــه کومـــه ورح چـــې اشـــنا تلـــې مـــرور دے
راتـــه اور شـــوے پېښـــور دے

تـــــــــــــالاوالا ,, اشـــــــــــــنغرۍ ،، ده
خوشـــــې پرتـــــه ,, قصـــــه خـــوانۍ ،، ده
کـــه ,, یکـــه تـــوت ،، کـــه ,,کوهـــاټۍ ،، ده
سلګو نیولې ,,وزیرباغ،، هم ,,ګهنټه ګهر دے
راتـــه اور شـــوے پېښـــور دے

نـــۀ مـــې زړۀ لګـــې ,, لاهـــورۍ ،، کښـــې
نـــۀ ,, ابـــدره ،، نـــه پـــه ,, لنـــډۍ ،، کښـــې
ګـــرځم خفـــه پـــه ,, کـــابلۍ ،، کښـــې
ګـــزار خـــوړلې مـــې رســـا د زړۀ پـــه ســـر دے
راتـــه اور شـــوے پېښـــور دے

زړۀ مـــې پـــه ,, تـــاؤن ، ، کښـــې ډوبیـــږي
,, حیـــات آبـــاد ، ، راتـــه اور کیـــږي
چـــې تیـــر وختونـــه مـــې یـــادیږي
تـږے احسـاس مې پـه هـر خـوا نظـر نظر دے
راتــه اور شــوے پېښــور دے

,,خیبـــر بـــازار ، ، دے کـــه ,,تهکـــال ، ، دے
وران د ,, فـــردوس ، ، د زنـــې خـــال دے
,, صـــدر ، ، همـــه مـــلال مـــلال دے
راشه ,, رامداس ، ، درپسې ټول په چغو سر دے
راتــه اور شــوے پېښــور دے

د ,, ګلبهـــار ، ، لارو کوڅـــو کښـــې
ګـــلاب ګـــلاب مـــې شـــې لېمـــو کښـــې
د ,, اندرشـــهر ، ، رنګینـــو کښـــې
د جـــدایۍ غـــم دې لـــه هـــر څـــۀ زورور دے
راتــه اور شــوے پېښــور دے

د هـــر چـــا ســــترګې راپســــې دي
پـــه تـــن زمـــا بلـــې لمبـــې دي
لایقـــه ګرانـــې ورځـــې شـــپې دي
د زړۀ لـــه حالـــه مـــې بـــس يـــو الله خبـــر دے
راتـــه اور شـــوے پـښـــور دے

# فاصلې

اوس مینه نشته قیصه تولې د پیسو ده
فریب او د دهوکو ده
دنیا تالاوالا د اعتماد او د رشتو ده
د ننګ او د پښتو ده

پیسې چې درسره وي، له هر چا نه هوښیار ئې
ستا پلار نیکۀ نیکان وو پخپله ایماندار ئې
هر څوک درنه ځاریږي د هر چا رشته دار ئې
خبره دې په تول ده اشاره دې د جرګو ده
د غټو فیصلو ده

نشه ئې خیژي سر ته ، بې سره چې افسر شي
له خیاله کوږ روان وي ، له هر چا معتبر شي
په هر ځائے کښې نیغیږي ، بې زوره زورور شي
د وینې قدر ورک شو اوس خبره د کرسو ده
دنیا د تماشو ده

بې کاره چې زلمي شي ، مئين شي عاشقان شي
شليدلي ګريوان ګرځي ، د مينې ملنګان شي
په هر چا پسې ګوري ، د حسن قاتلان شي
چل ول دے ګنړکپي ده قيصه نوې د قيصو ده
لانجه ده د لانجو ده

دا څنګه په لړ وخت کښې ، بدلې تقاضې شوې
ياران بدل بدل شو، بدلې فاصلې شوې
په کور د روايا تو لمبې بلې لمبې شوې
لايقه دنيا ورانه د ارمان او د زړګو ده
د خيال او د جذبو ده

اوس مينه نشته قيصه ټوله د پيسو ده
فريب او د دهوکو ده

# انداز

چا په فریب اوخوړه ، چا په دهوکو اوخوړه
چې حیا نهٔ پیژني ، دنیا هغو اوخوړه

چا د وردۍ په نامه ، پردي کورونه لوټ کړهٔ
چا د یارۍ په نامه ، پردي مالونه لوټ کړهٔ
چا په چل ول اوخوړه، چا په نخرو اوخوړه
چې حیا نهٔ پیژني ، دنیا هغو اوخوړه

چا د پیسو دپاره، خپل غیرتونه خرڅ کړهٔ
دې ځینو ځینو پکښې ، خپل ایمانونه خرڅ کړهٔ
چا په شملو اوخوړه ، چا په پټکو اوخوړه
چې حیا نهٔ پیژني ، دنیا هغو اوخوړه

څـوک فریبونـه کـوي ، د فقیـرۍ جامــه کښــې
پــردي جیبونــه وهــي ، د ملنګــۍ جامــه کښــې
چا په ,, پیرۍ ،، اوخوړه ، چا په ,,تسبو، ، اوخوړه
چـــې حیـــا نــۀ پیژنـــي ، دنیـــا هغـــو اوخـــوړه

چاخپل اولس بیعه کړو، چا ,,ممبري، ، خرڅه کړه
چا ټول دفتر تاله کړو، چا,, افسري ،، خرڅه کړه
چــا پــه قلــم اوخــوړه ، چــا پــه کرســو اوخــوړه
چـــې حیـــا نــۀ پیژنـــي ، دنیـــا هغـــو اوخـــوړه

چې شي قربـان پـه مینـه ، هاغـه یـاران چرتـه دي
وخــت د ے بــدل لایقــه اوس صــادقان چرتــه دي
چــا د پښــتو پــه نامــه ، چــا پــه پښــتو اوخــوړه
چـــې حیـــا نــۀ پیژنـــي ، دنیـــا هغـــو اوخـــوړه

# خواهش

تهٔ خوا کښې زما ناست وې ما دې سترګو ته کتلې
ژوند داسې تېرېدلې
حالونه مې د زړهٔ په چپه خوله درته وئيلې
ژوند داسې تېرېدلې

رنګين ما زيګرې کښې چې نمر په غر غره وې
د يخې چينې شور وې، شينکې خوارهٔ وارهٔ وې
وئيلې مو څهٔ نشوې د يو بل نه شرمېدلې
ژوند داسې تېرېدلې

وئې ورک له خپله ځانه ، د سترګو په لېمو کښې
تهٔ ماته فکر وړې ، زهٔ تاته په سلګو کښې
په مخ مو رڼې اوښکې ګرمې ګرمې بهيدلې
ژوند داسې تېرېدلې

د شپې په خاموشۍ کښې ، دوه زړونه په درزا وي
ستا روح زما سینه کښې، ستا تن کښې زما ساه وي
سپوږمۍ مو غلې غلې تماشې ته ودریدلې
ژوند داسې تیریدلې

وي مینه په هر لوري ، غماز نهٔ رقیبان وي
بې غمه له هر غمه، یو زهٔ وي بل جانان وي
„سپین سترګي ،، د تول چم راته لایقه پسخیدلې
ژوند داسې تیریدلې

# ناآشنا

,,ختــــک،، نــــهٔ ,,افریـــدے،، دے
,,خلیـــل،، نــــهٔ ,,یوســـفزے،، دے
خـــوارۀ خـــوارۀ راګـــوري ، پـــه خبـــرو نـــهٔ پـــوهیږي
پـــه زړۀ مـــې راوریـــږي
,,شـینوارے،، نـهٔ ,,وزیـر،، دے ، زمـا د خـوب تعبیـر دے
د حســــن دعــــوٰی ګیـــر دے

,,مومنـــد،، نـــهٔ ,,اورکـــزے،، دے
,,بـــارک،، نـــهٔ ,,احمـــدزے،، دے
وئـــیلے چاتـــه نشـــم ځکـــه ســـترګې مـــې شـــرمیږي
پـــه زړۀ مـــې راوریـــږي
خوبونـــه مـــې تـــرې زار شـــه ،خیالونـــه مـــې تـــرې زار شـــه
فکرونـــه مـــې تـــرې زار شـــه

,,داوړ،، نـــــهٔ ,,ســــــــدوزي،، دے
,,ســــواتے ،، نــــهٔ ,,ملیـــــزي،، دے
پــه تـــورو تـــورو شــپو کښــې راتـــه ســيورے ســيورے کيــږي
پـــــه زړهٔ مــــــې راوريــــــږي
زمـــا د زړهٔ ټکـــــور دے ، پـــــه ذهـــن مــــې راخـــــور دے
پـــــه مينــــــه کښـــــې ئـــــې زور دے

,,کــاکړدے،، نــهٔ ,, دے کاســـے ،، دے
,,مــــــروت ،، نــــهٔ ,,بنـــــوڅے،، دے
کـــهٔ ديـــر خـــورم قســـمونه ، خـــو زمـــا کلـــه هيريــــږي
پـــــه زړهٔ مــــــې راوريــــــږي
کـــه ډيـــر رانـــه جـــدا دے ، بـــې غمـــه بـــې پـــروا دے
بيـــــا هـــــم زمـــــا دے

ســـاده غونـــدې ســـړے دے ، د ,,لـــوئے اخـــون[1] ،، لمســـے دے
محفـــــل کښــــې د يــــارانو پـــه لايـــق بانـــدې يـــاديږي
پـــــه زړهٔ مــــــې راوريــــــږي

[1] اخون درویزه بابا رح

# مينه

څوک په نازونو مئين ، څوک په خالونو مئين
څـــــوک پـــــه خـــــورو زلفـــــو نـــــازيږي
زما خو ستا سترګې خوښيږي

چې مې ليدلې ئې تهٔ ، زړهٔ مې قرار نهٔ کوي
په چغو ژاړمه زهٔ ، اوښکې مې وار نهٔ کوي
څوک په ګلونو مئين څوک په رنګونو مئين
څـــــوک پـــــه ســـــپرلو پســـــې کړيـــــږي
زما خو ستا سترګې خوښيږي

تن مې خوله خوله شي ، چې کله تهٔ راګورې
ماحول نشه نشه کړې، نشه نشه راګورې
څوک په يادونو مئين ، تشو سوچونو مئين
څـــــوک پـــــه خيـــــالونو کښـــــې اوســـــيږي
زما خو ستا سترګې خوښيږي

زۀ بــې لتــا جانانــه ، څــوک يــادولے نــۀ شــم
بلـــه نامـــه لايقـــه ، زۀ اخســـتلے نـــۀ شـــم
څـــوک پـــه شـــعرونو مئـــين پـــه غزلونـــو مئـــين
پـــــــه لاره ځـــــــان ســــــره ګــــــونږېږي
زمــا خــو ســتا ســترګې خوښــيږي

# خپله خاوره

دا ستا د عظمت نخښې دي ايلم دے کـه خيبـر
وطنـــه ســـتا مقـــام د ے لـــه هـــر چـــا نـــه معتبـــر
دا ســـتا پـــه رخســـارونو کښـــې د حســـن بهـــارونـــه
دا ســـتا پـــه خـــوره غيـــره کښـــې د مينـــې جهـــانونـــه
دا ســـتا پـــه هـــره خـــوا کښـــې ګـــلالـــي محبتونـــه
ښائســـت دې پـــه هـــر لـــوري د رنګونـــو جـــادوګـــر
وطنـــه ســـتا مقـــام د ے لـــه هـــر چـــا نـــه معتبـــر

# دا ولې !

تيـــارې چـــې راخـــورې ســـاه ګـــانې مـــې ډوبيـــږي
تصوير دې راشي خيـال تـه، پـه ليمو کښې غـړيږي
څــۀ چــل رابانــدې کيـــږي

هيريـــږي رانـــه کلـــه ، تيـــر شـــوي ماښـــامونه
د اوښـــکو ډکـــې ســـترګې ، وعـــدې او قســـمونه
غمونـــه مـــې زيـــاتيږي ، فکرونـــه مـــې قتليـــږي
لمبــې د جــدايۍ مــې پــه احســاس بانــدې بليـــږي
څــۀ چــل رابانــدې کيـــږي

چـــې کلـــه شـــم يـــوازې ، د ځـــان ســـره ژړيـــږم
د هاغـــه چنـــار لانـــدې ، راځـــم غلـــې اودريـــږم

خبـــر يمـــه خبريـــږي ، چـــې نـــۀ راځـــي شــــرميږي
کم عقلـه دومـره نـۀ ده ، پـه هـر څـۀ بانـدې پـوهيږي
څــۀ چــل رابانـــدې کيـــږي

ارمان چې دې مسکے شي ، بيا طمع مې پيدا شي
اميـــد راتـــه دا وائـــي ، لـــه ورايـــه پـــه خنـــدا شـــي
ګلونـــه چـــې خنـــديږي ، رنګونـــه چـــې خـــوريږي
راځـــي جـــوړې لايقـــه ، ګـســـه ســـترګه مـــې رپيـــږي
څــۀ چــل رابانـــدې کيـــږي

# چې تهٔ راغلې

ما ستا په یاد کښې ډېرې کړې شوګیرې دي
لالیــه بنـهٔ شـوه چـې تـهٔ راغلـې

دا ستا له غمه مې تر اوسه سترګې سرې دي
لالیــه بنـهٔ شـوه چـې تـهٔ راغلـې

دا تـــهٔ چـــې نـــهٔ وې ، ژړیدمـــه اشـــنا
تـــا پســـې ډیـــره کړیدمـــه اشـــنا
زلفـــې پریشـــانه پـــه اوږو زمـــا خـــورې دي
لالیــه بنـهٔ شـوه چـې تـهٔ راغلـې

چـــې بـــې لتـــا نـــه وي خنـــدا څـــهٔ کـــووم
کـــه وي ابـــاده دا دنیـــا څـــهٔ کـــووم
پـــه تـــا ودانـــې مـــې د مینـــې نظـــارې دي
لالیــه بنـهٔ شـوه چـې تـهٔ راغلـې

ســتا د وفــا پــه هــره ســاه مــې قســم
بــلا دې واخلمــه پــه تــا مــې قســم
د هــر چــا ســترګې راپســې وئ راپســې دي
لاليــه ښــهٔ شــوه چــې تــهٔ راغلــې

ذکــر چــې بيــا د جــدايۍ اونکــړې
غــږ د مرګــي پــه ليــونئ اونکــړې
فــاني دنيــا ده ډېــرې لنــډې ورځــې شــپې دي
لاليــه ښــهٔ شــوه چــې تــهٔ راغلــې

زمــا د دواړو ســترګو تــور لايقــه
زمــا د ســوي زړهٔ ټکــور لايقــه
بغيــر لتــا نــه د ژونــد ګرانــې مرحلــې دي
لاليــه ښــهٔ شــوه چــې تــهٔ راغلــې

# ژوبل ، ژوبل

نــور مــۀ شــې د نظــره د بابــا د پټکــي ولــه
زخمي زخمي کابله
پرهــر پرهــر ســینه دې پــه ګلونــو شــه بدلــه
زخمي زخمي کابله

ســتا غیــږه لاخــالي ده ، بچــي دې در پــه در دي
د ژونــد پــه هــره ســاه کښــې، زخمونــه دې ژور دي
سلګۍ دې اوریدے شي د ,,پامیر، نه تر ,,زابله ، ،
زخمي زخمي کابله

چــې تــۀ ئــې ژوبــل شــوے ، ژړلــي پښــتنو دي
تــاجکو، ازبکــانو، هــم شــاړو پــه ســلګو دي
قربــان د هــر افغــان د ارمــانونو تــاج محلــه
زخمي زخمي کابله

اوربـــل د ملالـــۍ ئـــې ، شـــمله د ابـــدالي ئـــې
نـاموس د میـرویس خـان ئـې ، بیـرغ د غزنـوي ئـې
مـــنلې دې عظمـــت د ې عظمتونـــو لـــه ازلـــه
زخمي زخمي کابله

چـې تـا کلـه خـوړلي ، پـه سـر سـر ګوزارونـه
لمبــه لمبــه وجــود دې ، اخســتي لااورونــه
ژړلــي ســتا لایــق دي پــه څــو واري پــه څــو ځلــه
زخمي زخمي کابله

پرهــر پرهــر ســینه دې پــه ګلونــو شــیه بدلــه
زخمـــي زخمـــي کابلـــه*

---

* په کال ۲۰۰۴ء کښې په افغانستان کښې د روانو حالاتو په تناظر کښې اوليکلې شو.

# ښائستونه

ښکلې دے کابل خو ,,قندهار،، د چا نه کم نهٔ دے
تل دې اباد اوسي ,,ننګرهار،، د چا نه کم نهٔ دے

خاوره که د ,,خوست،، که د,, کونړ،، ده ګلورینه ده
ټوله مینه مینه ده
سیمه د ,,لغمان ،، د پسرلو غوندې حسینه ده
ټوله مینه مینه ده
زار ئې له نامې شمه ,,مزار ،، د چا نه کم نهٔ دے
تل دې اباد اوسي ,,ننګرهار،، د چا نه کم نهٔ دے

چا چې ښائستونه د ,,پغمان،، یو ځل لیدلي دي
بیا بیا ئې ستائیلي دي
څوک چې د ,,پکتیا ،، په ګلدرو کښې ګرځیدلي دي
بیا بیا ئې ستائیلي دي

مينه مې ,, قندوز ، ، د ے خو ,,تخار ، ، د چا نه کم نۀ د ے
تــل دې ابــاد اوســي ,,ننګرهــار ، ، د چــا نــه کــم نــۀ د ے

حســـن د ,,هلمنـــد ، ، کــه د ,,هــرات ، ، د ے رنګینــي لــري
ژونـــد لــــري مســـتي لــــري
نخښــې د غيــرت خپلــه سينه کښــې هــم ,, غزنــي ، ، لــري
ژونـــد لــــري مســـتي لــــري
خـد ائيګو د ,,پـروان ، ، سـيمه ګلـزار د چـا نـه کـم نـۀ د ے
تــل دې ابــاد اوســي ,,ننګرهــار ، ، د چــا نــه کــم نــۀ د ے

کـــور د ننګيـــالو د شـــاه زلمـــو د ے ګلســـتان زمـــا
تـــول افغانســـتان زمـــا
ننـــګ زمـــا پښـــتو زمـــا لايقـــه دل و جـــان زمـــا
تـــول افغانســـتان زمـــا
دلتـــه د ملالـــي ,, يکـــه زار ، ، د چـــا نـــه کـــم نـــۀ د ے
تــل دې ابــاد اوســي ,,ننګرهــار ، ، د چــا نــه کــم نــۀ د ے

# نيمه خوا ، نيمه خوا

يادګيرنه :- په تيرو دوؤ دريو کالونو کښې زمونږ د فني دنيا څو پياوړي ملګري د همېشه دپاره بيل شول . د هغوي مرګ د پښتو ژبې د کلتوري او ثقافتي پنګې دپاره ډير لوئے تاوان دے . دغه څو شعرونه د دغه خدائے بخښلو د عظمتونو د اعتراف په توګه .

## بې حسي

نۀ ئې چا پوښتنه اوکړه په ژوندون کښې
نۀ ئې شکل کړۀ يو پښتون د قبر کاڼي

(د مهدي شاه باچا په مرګ)

## معجزه

فنکار مړ شي ولې فن ئې بيا ژوندے کړي
دا د فــــن معجـــزه څـــومره عجيبــــه ده

(د استاد فضل ربي (طورو) په مرګ)

## يار

پـروا دار چـې د سـر نـۀ وو پـه یـارۍ کښـې
دریغـه هسـې رنـګ بـل یـار چرتـه پیـدا شـي
( د استاد راحت شاه په مرګ )

# مرګ

چـې پـه خپلـه غریبـۍ کښـې شهنشـاه وو
چــې د فــن د عظمتونــو نــه بــالا وو
یـو خـوداره شـان ملنـګ غونـدې سـړے وو
د ژونـدون د رنګینـو نـه بـې پـروا وو
چې ئې مـرګ د هـر پښتون دپـاره مـرګ دے
د نـن مـرګ ئـې د ,,پـرون ،، دپـاره مـرګ دے
( د استاد زرنوش په مرګ )

# امر

چې د ژوند د هرې ,,ساه،، سره په جنګ وو
چې الفت کښې د وفا په جذبو رنګ وو
لوئې پښتون وو د ,,پښتو،، په معنٰی پوهه
هم خبر په هر یو راز د نام و ننګ وو
عثمان مړ نۀ دے په زړونو کښې ژوندے دے
د یارانو محفلونو کښې ژوندے دے

(د عثمان داؤدزي په مرګ)

# ګوهر

چې د فن د باریکیانو نه خبر وو
په یارانو کښې له هر چا معتبر وو
چې شیندل ئې په هر چا محبتونه
مینه مینه وه د مینې سمندر وو
نیمه خوا وو له ازله نیمه خوا شو
ډیر بې وخته د هر چا ,,ګوهر،، فنا شو

(د ګوهر علي ګوهر په مرګ)

## ترجمان

محفلونــــــه د یـــــارانو پـــــرې ابــــاد وو
د ژونـــــدون د بهـــــارونو ترجمــــــان وو
چې په مـخ بـه ئې همیشـه خندا خـوره وه
د احســـــاس د وســـــعتونو ترجمـــــان وو
اوس چـــې کلـــه د وفـــا خبـــره کیــــږي
د ,, همــدرد ،، نامــه بــه خامخــا یـــادیږي

( د هدایت الله همدرد په مرګ )

## ګل

فنکـاران بـه ډیر پیـدا شي پښـتونخوا کښـې
خـو د ,, ګـل ،، نعـم البـدل بـه پیـدا نـهٔ شـي

( د عنایت الله ګل په مرګ )

## سرتاج

چې ئې ,,تـاج ،، د فنکـارۍ وو پـه سر کـړے
حقیقـت د ے پــه رښـتیا بانــدې ســرتاج وو
یـــو ســـمبول د ســـادګۍ او محبـــت وو
مکمـــل وو د تعریـــف کلـــه محتـــاج وو

( د تاج نبي تاج په مرګ )

# کارغهٔ

څو ورځې کیږي اشنا
چې هر سحر په بلۍ
کارغهٔ راځي او کیني
چغې وهي روان شي
زما هم سترګه رپي
وایم چې نن به راشې
ولې په دغه طمع
ډیر سحرونه تیر شو
ډیر ماښامونه تیر شو

# خبر

دا زړۀ مې داسې وائي
چې ښۀ په چغو چغو
اوژاړه صبر نۀ شې
چې د غمونو پېتې
دې لږ نور ښۀ سپوا شي
ټول ناخبره خلق
درباندې هم خبر شي

# تعویذ

زما په غاړه تعویذ
ستا د غرور په نامه
„ هاغه مُلا ، لیکلے
چې ماشومتوب کښې به مونږ
ورسره ناست وو دواړه
تا به سبق وئیلو
ما به دې مخ ته کتل
مُلا به زۀ وهلم
تا به خندل راپورې
زما په غوږو کښې اوس
هاغه خندا پرته ده
تا د ځوانۍ په درشل

ایله قدم ایښې دے
سبق له نۀ راځي اوس
زما بې صبره زړګے
هډو قرار نۀ کوي
زۀ یو تعویذ په غاړه
ستا په لټون ګرځمه
دغه باور لرمه
چې ستا غرور به یو ځل
دغه تعویذ ماتوي
ځکه په دې پوهه یم
دا عقیده لرمه
مُلا که „ هر څۀ ،، کوي
ولې دروغ نۀ وائي

***

# انتظار

چې به په توره شپه کښې تورې پېشو
د لوئې انګڼ دروازه بېرته کړله
زما د زړهٔ درزا به لا زیاته شوه
ما به وئیل چې جوړې تهٔ راغللې
تا نه به هېره د راتلو وعده وه
ما به د هجر یوه بله شپه هم
ستا د راتلو په انتظار تېره کړه

# بُت

ما په سلګو سلګو کښې
د ارمانونو په مخ
د وخت شيندلې ختې
ټولې راغونډې کړلې
بيا مې په ډېره مينه
ددې خورو ختو نه
د بُت جوسه جوړه کړه
زۀ بت پرست خو نۀ ووم
خو هډو پوهه نشوم
چې دغه بُت مې څنګه
په دواړه مخه ښکل کړو
زما د شونډو ټکور

په بُت کښې ساه راوسته
زما شډلې مینې
بُت ته خبرې زده کړې
اوس د ژوندون په لاره
زما د لاس جوړ کړے
بُت کله کله وائي
تا د ژوندون فلسفه
هډو لوستې نۀ ده
تۀ د ښائست په مفهوم
چا پوهه کړے نۀ ئې
تۀ مینه څۀ پیژنې
زۀ د احساس په غوږو
د بُت خبرې اورم
څۀ غږ کولے نشم
ځان ته د ځان په نصیب
په چغو چغو ژاړم

# باور

ښه دي وکړه ښۀ دي وکړه
چې زما ټولې جذبې دي
په غصه کښې تار په تار کړې
د کلونو محبت دي
په نفرت باندې بدل کړو
په دې خیال په دې باور چې
زۀ به ستا د زړۀ د تل نه
چرته لرې لرې لاړ شم
خو ددې نه خبر نۀ ئې
چې زۀ ستا په هره ساه کښې
د ,, ساه ګانو ،، غوندې اوسم
تۀ به ما هیرول غواړې

خو چې کله نیمه شپه شي
خاموشي دې په احساس کښې
د ماشوم غوندې اوده وي
زما یاد به دې زړګي ته
غلې غلې غوندې راشي
ستا به ساه شي لنډه لنډه
بې اختیاره به راپاڅي
په سپین مخ به دې رنګونه
وار خطا وار خطا ګرځي
خورې زلفې پریشانه
کله یو خوا کله بله خوا
به اوتره کور کښې ګرځې
بیا به زر په آئینه کښې
ځان ته وګورې پوهیږم
آئینه کښې به ما وینې
زۀ به غلې غلې خاندم
ستا به زړۀ په درزیدو شي
دواړه سترګې به کړې پټې
بیا چې کوم طرف ته ګورې

زۀ به ستا په هر نظر کښې
د ,, نظر ،، غونډې غرېږم
تر صبا پورې به ژاړې
ځکه دا زما باور دے
چې دې خندګه یادوم زۀ
داسې زۀ به دریا دېږم
زما کله نه هیرېږې
ستا به کله نۀ هیرېږم

✪✪✪